# د متلونو کِتاب

## پیژندګلو

دا د متلونو کِتاب دے. دا د متلونو هغه مجموعه ده چې د حضرت داؤد علیه السلام زوئ د حضرت سلیمان علیه السلام په واسطه رایوځائ شوې او لیکلے شوې ده. حضرت سلیمان بادشاه له خُدائ پاک یو خاص او نادر حِکمت ورکړے وو. په ځوانئ کښې هغۀ د پاک خُدائ نه په دُعا کښې خواست وکړو چې، ”ما له حِکمت راکړه چې ستا په خلقو په اِنصاف سره بادشاهي وکړم او د ښۀ او بد په مینځ کښې فرق وپېژنم.“ (اول بادشاهان ۳:۹). د متلونو کِتاب د حضرت سلیمان په وسیله یعنې د نن نه څۀ دپاسه درې زره کاله وړاندې رایوځائ کړے شوی دی. د حېرانتیا خبره خو دا ده کۀ څۀ هم چې دا متلونه ډېر پخوا لیکلے شوی دی، خو سره د دې بیا هم دا نن ډېر معنې خیزه دی او داسې لګی لکه چې هم دا نن لیکلے شوی دی. متلونه دې دپاره ولیکلے شُو چې ساده خلقو ته پوهه ورکړی، او ځوانانو ته حِکمت او شعور ورکړی او چې هوښیار نور هم هوښیار کړی. په دې کښې د تجارت، د ملګرتیا، د وادۀ، د ماشومانو د پرورش، د پیسو، د قرض، د کاروبار په حقله او نورې ډېرې خبرې شته دے. ډېر متلونه د عقلمندو او د کم عقلو په ژوند کښې فرق ښکاره کوی. د متلونو په کِتاب کښې عقل او حِکمت د ټولو انسانانو دپاره دے او د عملی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نصیحتونو په شمول کوم چې یوه ټولنه او معاشره د امن او امان او محبت طرف ته بوځی. نشه تماشه، زیات خوړل، حسد، کینه، بُغض، دشمنی او لالچ به ختم کړے شی، غریب به نهٔ نظر انداز کیږی، دا لوستونکو ته د ایمانداری، راستی، ذمه واری، مهربانی، سخاوت، د معاف کولو، حقیقت، صبر، عاجزی، خوشحالی، وفاداری، پرهیزګاری، ځان قابو کښې ساتل او د هوښیار سوچ د اَنجام ترغیب ورکوی. دا د اخلاقو، خواهشاتو او د هغوئ د عملونو نه راځی. غصه په قابو کښې ساتئ، فساد او جګړو نه لرې اوسیږئ، فضول خبرو نه پرهیز وکړئ، کبر پریږدئ، عدالتونه دې د بې اِنصافی نه پاک وی، د شرعې د اختیارمندو عزت وکړئ. مور پلار دې خپلو بچو ته د صحیح تربیت او تعلیم ورکولو خیال وساتی، او بچی دې د خپل مور پلار عزت کوی او هغوئ دې خپل خاندان د بې‌شرمئ نه وساتی. د حفظ کولو دپاره ۳:۶ آیت "چې تهٔ هر کار کوې نو په هغې کښې مالِک خُدائ یاد ساته، او هغه به تا ته صحیح لاره ښائی."

## د حضرت سلیمان متلونه

۱ ① د داؤد د زوئ د سلیمان متلونه چې د بنی اِسرائیلو بادشاه وو. ② د دوئ مقصد دا دے چې خلقو ته د حِکمت او تربیت په حقله تعلیم ورکړی او چې هغوئ په عقلمندو خبرو پوهه شی. ③ دا به تاسو ته تعلیم درکړی چې ښنګه به خپل ژوند په صداقت، عدل او اِنصاف سره تېروئ. ④ دا متلونه ساده خلق هوښیاروی او ځوانانو له عقل او تمیز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوی. ۵ دا متلونه د هوښيارانو پوهه نوره هم زياتوی او
د عالِم رهنمائی کوی، ۶ نو هغوئ به په متلونو او مِثالونو
او د هوښيارانو په خبرو او د هغوئ په معماګانو دواړو به
پوهه شی.

## د ځوانانو دپاره نصيحت

۷ د مالِک خُدائ يره د عِلم شروع ده، خو کم عقل خلق د
حِکمت او تربيت سپکاوے کوی. ۸ زما زويه، د خپل پلار
لارښودنو ته غوږ شه او د خپلې مور تعليم دې مۀ هېروه. ۹
د هغوئ نصيحتونه به ستا د سر دپاره ښائسته سهره او ستا
د غاړې دپاره د عزت هار وی. ۱۰ زما زويه، کله چې
ګناهګاران ستا د بې‌لارې کولو کوشش کوی، نو د هغوئ نه
ځان ساته. ۱۱ کۀ چرې هغوئ ووائی، ”راځه، چې يو ځائ
شُو او د پټ ځائ نه ګزار وکړُو او قتل وکړُو. راځه چې په
يو بې‌ګناه کس باندې هسې د خوند دپاره غلې حمله وکړُو.
۱۲ راځه چې د قبر په شان هغوئ ژوندی تير کړُو، د هغوئ
په شان لکه څوک چې د مرګ کندې ته کوزيږی. ۱۳ مونږ
به هر قِسمه قيمتی څيزونه حاصل کړُو او د لوټ د مال نه به
خپل کورونه ډک کړُو. ۱۴ راځه مونږ سره ملګرے شه او
مونږ چې څۀ لوټ کړُو نو په هغې کښې به تا له هم برخه
درکړُو.“ ۱۵ زما زويه، د داسې خلقو سره مۀ ځه، او د
هغوئ په نقش قدم مۀ ځه. ۱۶ ځکه چې هغوئ د بدکارۍ
طرف ته په منډه روان وی، او د وينې تويولو په اړخ تېزۍ
سره روان وی. ۱۷ د يو مارغۀ د سترګو د وړاندې جال
خوروِل څومره بې‌فائدې دی. ۱۸ خو دغه شان خلق د خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان دپاره دام خوروی، داسې دام چې هغوئ به په خپله په
کښې تباه شی. ۱۹ هم دغه به وی اَنجام د هغه کسانو څوک
چې د ناجائزه پیسو ګټلو لالچی وی نو په دې وجه به د خپل
ژوند نه لاس وینځی.

## د حِکمت آواز

۲۰ حِکمت په لارو کوڅو کښې په تېزه چغې وهی، او په
چوکونو کښې په اوچت آواز نعرې وهی. ۲۱ د بازار په ګڼه
کښې هغه چغې وهی، او د ښار په دروازو کښې چرته چې
خلق راغونډېږی هلته تقریر کوی، ۲۲ ”جاهله خلقو، تاسو به
تر کومې پورې ساده ګان یئ؟ ترڅو پورې به تاسو مسخره
کوونکی په خپلو مسخرو کښې خوشحاله یئ؟ ترڅو پورې به
تاسو بېوقوفان عِلم نه نفرت کوئ؟ ۲۳ راشئ او زما سختې
خبرې واورئ. زهٔ به خپل زړهٔ نه تاسو خبر کړم او تاسو به
هوښیار کړم. ۲۴ ما تاسو ته څو ځله آوازونه وکړل خو
تاسو رانهٔ غلئ. زهٔ تاسو له درغلم خو تاسو ما ته توجو رانهٔ
کړه، ۲۵ تاسو زما ټول نصیحتونه نظر انداز کړل او زما
اصلاح کول مو رد کړل، ۲۶ خو چې کله تاسو په تکلیف
کښې پرېوځئ نو زهٔ به په تاسو پورې ملنډې کوم، او زهٔ به
تاسو پورې خندا کوم کله چې تاسو بدبختی راګېر کړی، ۲۷
کله چې بدبختی لکه د طوفان درباندې راشی، او چې
مصیبت لکه د سیلۍ په شان درباندې راشی او چې مصیبت
او سختی په تاسو باندې غالبه شی، ۲۸ نو بیا چې کله دوئ
ما ته چغې وهی، خو زهٔ به دوئ له جواب نهٔ ورکوم. دوئ به
ما هر چرته د زړهٔ نه ولټوی، خو دوئ به ما پیدا نهٔ کړی. ۲۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې دوئ د پوهې نه نفرت کولو او دوئ د مالِک خُدائ
نه نۀ يرېدل خوښ کړل، ۳۰ دوئ زما نصيحت رد کړو، کله
چې مې اصلاح کوله نو دوئ ما ته هيڅ توجو رانۀ کړه. ۳۱
نو په دې وجه دوئ به د خپل چال چلن ترخه مېوه وخوری
او په خپلو منصوبو به ماړۀ شی. ۳۲ د ساده خلقو سرکشی
به دوئ مړۀ کړی، کم عقلان د خپل قناعت په وجه تباه
کيږی. ۳۳ خو هر څوک چې ما ته غوږ نيسی نو هغه به په
امن کښې اوسيږی، او د نقصان څۀ يره به پرې نۀ وی."

## د حِکمت فائدې

۲ ۱ زما زويه، کۀ تۀ زما خبرې ومنې او زما حُکمونه په
زړۀ کښې محفوظ کړې، ۲ او د عقل خبرو ته غوږ ونيسې
او خپل زړۀ د هوښيارتيا طرف ته مائل کړې، ۳ نو بيا د
پوهې طلب کوه او د حِکمت دپاره په تېزه نعرې ووهه. ۴
تۀ د دوئ داسې تلاش وکړه لکه د سپينو زرو چې کوې او يا
يې داسې لټون وکړه لکه چې د پټې خزانې کوې. ۵ نو بيا
به تۀ د مالِک خُدائ په يره باندې پوهه شې او د خُدائ پاک
عِلم به حاصل کړې. ۶ ځکه چې مالِک خُدائ عقل او
حِکمت ورکوی، او د هغۀ د خولې نه عِلم او پوهه راوځی.
۷ هغه د نېکو خلقو دپاره د عقلمندئ خزانې ساتی، هغه د
هغه چا دپاره ډال دے د چا کردار چې بې‌داغه وی. ۸ هغه
د اِنصاف کوونکو د لارو ساتنه کوی او هغه د خپلو مقدسينو
حفاظت کوی. ۹ نو تۀ به په دې پوهه شې چې څۀ ښۀ او د
اِنصاف او مناسب دی. او تۀ به د ژوند نېغه لار بيامومې. ۱۰
نو تۀ به عقلمند شې او ستا عِلم او پوهه به ستا روح ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالي ورکړي. ١١ تميز به په تا نظر ساتي او پوهه به
ستا حِفاظت کوي. ١٢ عقل به تا د بدکاره خلقو نه ساتي،
او د هغوئ نه چې د چا خبرې چې غلطې دي، ١٣ چا چې
صحيح لاره پرېښې ده او په تيارو کښې تلل کوي، ١٤ څوک
چې د خرابو کارونو په کولو خوشحالېږي او د بدعملو په
شرارت خوشحالي کوي، ١٥ او دغه کسان په کږو وږو سر
دي او د هغوئ چال چلن د تګئ دے. ١٦ نو هغه به تا د
بدکارې ښځې نه وساتي، د هغې زناکارې نه څوک چې په
خوږو خبرو تا دوکه کول غواړي، ١٧ چا چې خپل د ځوانئ
د وخت خاوند پرېښے دے او خپل لوظ يې هېر کړو کوم يې
چې د خُدائ پاک په وړاندې کړے وو. ١٨ د هغې کور ته
تلل مرګ ته دعوت دے، او د هغې د کور لار د قبر لار ده.
١٩ څوک چې هغې له ورشي نو هغه بيا نۀ راواپس کيږي او
هغه بيا هيڅکله د ژوند په لاره راتلے نۀ شي. ٢٠ نو بيا تۀ د
ښو خلقو په طريقو تلل کوه او د صادقانو په لارو کښې پاتې
شه. ٢١ نو نېکان به په مُلک کښې اوسيږي، او بې داغه خلق
به په کښې پاتې شي. ٢٢ خو بدعمله به د هغه مُلک نه
وشړلے شي، او غداران به ترې د بيخ نه وويستلے شي.

## د عقل او حِکمت فائدې

٣ ١ زما زويه، زما لاربښودنه مۀ هېروه، خو زما حُکمونه
په خپل زړۀ کښې وساته. ٢ زما تعليم به ستا عمر سبوا
کړي او خوشحالي به درکړي. ٣ هيڅکله مينه او وفاداري
د خپل ځان نه مۀ لرې کوه. دوئ د خپلې غاړې هار کړه او د
خپل زړۀ په تخته باندې يې وليکه. ٤ نو بيا به تۀ د انسانانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خُدائ پاک په نظر کښې محبوبيت او نيک نامى حاصله
کړې. ۵ په خپل ټول زړۀ سره په مالِک خُدائ باندې توکل
کوه. او په خپله پوهه باندې تکيه مۀ کوه. ۶ چې تۀ هر کار
کوې نو په هغې کښې مالِک خُدائ ياد ساته، او هغه به تا ته
صحيح لاره ښائى. ۷ په خپل عقل باندې مۀ مغروره کېږه،
د مالِک خُدائ نه يرېږه او بدعملى پرېږده. ۸ نو په دې به
ستا بدن رغېږى او ستا هډُوکى به پرې تازه شى. ۹ په خپل
مال دولت سره د مالِک خُدائ عزت کوه، او د خپل ټول
فصل په وړومبۍ ميوې سره. ۱۰ نو بيا به ستا گودامونه ډک
شى او د سر نه به اوړى، او ستا د چاټۍ د خولې نه به نوى
مے اوړى. ۱۱ زما زويه، د مالِک خُدائ اصلاح مۀ رد کوه
او کله چې هغه تا تنبيه کوى په هغې باندې مۀ خفه کېږه. ۱۲
ځکه چې مالِک خُدائ چې چا سره مينه کوى نو هم هغه
تنبيه کوى لکه څنگه چې يو پلار هم هغه زوئ تنبيه کوى کوم
چې هغۀ ته گران وى. ۱۳ بختور دے هغه څوک چې حِکمت
حاصل کړى، او هغه څوک چې پوهه حاصله کړى. ۱۴
ځکه چې دا د سپينو زرو نه ډېر قيمتى دے او د دې گټه د
سرو زرو نه هم ډېره ښۀ ده. ۱۵ دا د قيمتى کاڼو نه هم گران
دے او ستا د خوښې يو څيز هم د دې برابر نۀ دے. ۱۶ د
عقل په ښى لاس کښې اوږد ژوندون دے، او د هغۀ په گس
لاس کښې عزت او دولت دے. ۱۷ د هغۀ لارې برکتى دى،
او د هغۀ ټولې لارې پُرامنه دى. ۱۸ حِکمت د هغوئ دپاره د
ژوند ونه ده څوک چې هغې ته غاړه ورکوى، بختور دى
هغوئ څوک چې هغه راټينگوى. ۱۹ مالِک خُدائ د خپل
حِکمت په ذريعه د زمکې بنياد کېښودلو، او د خپلې
هوښيارتيا په ذريعه يې آسمانونه پيدا کړل. ۲۰ د هغۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حِکمت په وسیله د زمکې د لاندې نه چینې روانې شولې، او د
وریځو نه پرخه په زمکه راووریدله. ۲۱ زما زویه، عدل او
تمیز په خپل ځان کښې پیدا کړه، او هغه د خپل نظر نه مۀ
لرې کوه. ۲۲ دوئ به ستا روح تازه ساتی، او دا به ستا په
غاړه د فضل هار وی. ۲۳ نو بیا به تۀ په حِفاظت سره په
خپله لار روان یې او ستا پښه به تیندک ونۀ خوری. ۲۴ کله
چې تۀ څملې، تۀ به نۀ یرېږې، او تۀ به په خوږ خوب اودۀ
کیږې. ۲۵ نو د ناګهانی افت نه به نۀ یرېږې او نۀ به د هغه
تباهۍ نه یرېږې کومه چې په بدعملو باندې راځی. ۲۶ نو
مالِک خُدائ به ستا ډاډ وی، او هغه به ستا پښې په دام کښې
د ګېرولو نه وساتی. ۲۷ څوک چې حاجتمند وی د هغوئ
سره ښېګړه مۀ پرېږده، کۀ چرې دا کار ستا وس کښې وی،
۲۸ کۀ چرې تۀ اوس د خپل ګاونډی سره مدد کولے شې،
نو ورته مۀ وایه چې، "سبا راشه چې مدد دې وکړم." ۲۹ د
خپل ګاونډی خلاف هغۀ ته د نقصان ورکولو منصوبه مۀ
جوړوه، څوک چې ستا په خوا کښې اوسیږی او په تا باور
کوی. ۳۰ په یو کس باندې هیڅ بې‌هیڅه اِلزام مۀ لګوه ترڅو
چې هغۀ تا ته نقصان نۀ وی درسولے. ۳۱ د ظالم سره
سیالی مۀ کوه او مۀ د هغۀ په نقش قدم عمل کوه، ۳۲ ځکه
چې مالِک خُدائ د هغوئ نه نفرت کوی څوک چې بدکاره
وی، خو هغه د نېکانو سره دوستانه تعلق ساتی. ۳۳ د
بدعمله په کور مالِک خُدائ لعنت ورَوی، خو هغه د صادق
په کور باندې برکت ورَوی. ۳۴ هغه د مغروره مسخره
کوونکو پورې مسخرې کوی، خو په عاجز خویه باندې خپل
فضل کوی. ۳۵ هوښیار عزت په میراث کښې ګټی، خو کم
عقل خپل شرم زیاتوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پلار نصيحت

۴ (۱) زما زامنو د خپل پلار هدايت ته غوږ ونيسئ. او هغې
ته توجو ورکړئ او پوهه حاصله کړئ. (۲) ځکه چې زهٔ
تاسو ته ښهٔ تعليم درښايم، نو زما تعليمات مهٔ هېروئ. (۳)
هر کله چې زهٔ د خپل پلار په کور کښې هلک وم، او د خپلې
مور ايک يو نيازبين زوئ وم، (۴) هغهٔ ما ته تعليم راکړو او
وې وئيل، ”په خپل ټول زړهٔ سره زما نصيحت راټينګ کړه،
زما په حُکمونو عمل کوه نو ستا ژوند به په خير تير شی. (۵)
حِکمت حاصل کړه، او پوهه حاصله کړه، زما خبرې مهٔ
هېروه او مهٔ د هغې نه مخ اړوه. (۶) عقل ته مهٔ شاه کوه،
ځکه چې هغه به ستا حفاظت وکړی، د هغهٔ سره مينه کوه نو
هغه به په تا باندې نظر ساتی. (۷) حِکمت حاصلول د ټولو
نه اهم کار دے، د نورو څيزونو د حاصلولو سره سره پوهه
هم حاصله کړه. (۸) د حِکمت عزت کوه او دا به تا لوئ
کړی. دې ته غاړه ورکړه نو دا به تا عزتمند کړی. (۹) دا به
ستا سر د فضل سهرې سره ښائسته کړی او د شان او
شوکت تاج به در په سر کړی.“ (۱۰) زما زويه، ما ته غوږ
شه. زهٔ چې درته څهٔ وايم هغه کوه، نو په دې کولو سره به
ستا عمر اوږد شی. (۱۱) ما درته د عقل او حِکمت لارښودنه
وکړه او په نېغه لار مې روان کړې. (۱۲) کله چې تهٔ ګرځې نو
ستا پښې به هيڅ څيز نهٔ منع کوی، او کله چې تهٔ منډه وهې
نو ټيندک به نهٔ خورې. (۱۳) زما نصيحتونه راټينګ کړه او دا
مهٔ پرېږده چې ستا نه لاړ شی. د هغوئ ښهٔ حفاظت وکړه
ځکه چې دا ستا ژوندون دے. (۱۴) د شريرانو په لار کښې
خپل قدم مهٔ ږده او مهٔ د بدکارانو په لار تلل کوه. (۱۵) د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ د لارو نه ځان وساته، د هغوئ په لار مۀ ځه، د هغوئ
د لارو نه راوګرځه او په خپله لار روان اوسه. ۱۶ ترڅو
پورې چې دوئ غلط کار نۀ وی کړے تر هغې خوب نۀ
ورځی، ترڅو پورې چې دوئ چا ته تيندک نۀ وی ورکړے نو
دوئ تر هغې پورې آرام نۀ کوی. ۱۷ هغوئ د شرارت روټۍ
خوری او د فساد نه ډک مے څښی. ۱۸ د صادقانو لار د
سحر د رڼا په شان ده، تر هغې ځليږی او لا نوره هم زياتيږی
ترڅو چې د ورځې رڼا نۀ وی راښکاره شوی. ۱۹ خو د
بدکارانو لار لکه د تورې تيارې په شان ده، دوئ په دې نۀ
پوهيږی چې په څۀ باندې يې تيندک وخوړلو. ۲۰ زما زويه،
زۀ چې درته څۀ وايم هغې ته توجو ورکړه، او په غور سره
زما خبرې واوره. ۲۱ دا د خپل نظر نه مۀ وياسه او په خپل
زړۀ کښې يې دننه وساته. ۲۲ نو دا به هغوئ له ژوند ورکړی
چې څوک يې پيدا کوی، او د هغوئ ټول وجود له به صحت
ورکړی. ۲۳ د هر څۀ نه اول د خپل زړۀ خيال ساته، ځکه
چې دا د ژوند د هدايت سرچينه ده. ۲۴ د خپلې خولې نه
ټګی لرې کړه، او دوکه مارې خبرې د خپلو شونډو نه لرې
کړه. ۲۵ په غور سره مخامخ نيغ ګوره، او خپل نظر نيغ
وساته. ۲۶ او د خپلو قدمونو دپاره لاره هواره کړه، نو بيا به
ستا ټوله لار مضبوطه وی. ۲۷ ښې او ګس طرف ته مۀ
تاوېږه، او خپلې پښې د شرارت نه وساته.

## د زنا نه ځان ساتل

۵ ۱ زما زويه، زما پوهې ته توجو ورکړه، او زما د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حِکمت خبرو ته ښهٔ غوږ ونیسه. ۲ نو بیا به تهٔ تمیز
حاصل کړې، او ستا شونډې به عِلم او حِکمت محفوظوی.
۳ ځکه چې د زناکارې ښځې د شونډو نه شات راځاځی.
او د هغې خبرې د تېلو نه زیاتې نرمې دی، ۴ خو په آخر
کښې هغه د ګندېر په شان ترخه، او د دوه مخیزې تُورې په
شان تیره ده. ۵ د هغې پښې د مرګ په طرف روانې دی، او
د هغې قدمونه سیدها د قبر طرف ته لاربښودنه کوی. ۶ هغه
د ژوند د لارې په حقله سوچ نهٔ کوی، د هغې لارې کږې وږې
دی، خو هغه پرې نهٔ پوهیږی. ۷ نو بیا اوس زما زویه، ما
ته غوږ ونیسه. او زهٔ چې درته څهٔ وایم نو د هغې نه مهٔ اوړه.
۸ د داسې ښځې نه ځان لرې ساته. او چې د هغې د کور
دروازې ته هم ورنزدې نهٔ شې ۹ هسې نه چې خپل عزت
نورو ته ورکړې او بې‌عزته شې. او د خپل ژوند واګې د
ظالمانو رحم و کرم ته وسپارې، ۱۰ هسې نه چې پردی ستا
په مال مزې وکړی، او ستا د ژوند محنت د بل چا کور مالا
مال کړی. ۱۱ او د خپل عمر په آخر کښې به تهٔ زبیرګی او
فریادونه کوې، هرکله چې ستا غوښې او بدن خوړین شی،
۱۲ نو تهٔ به ووائې، ”ما د اصلاح نه خومره نفرت کولو. او
خومره به زما زړهٔ اصلاح کول رټل، ۱۳ ما به د خپلو
اُستاذانو تابعداری نهٔ کوله، او نهٔ به مې خپلو لاربښودونکو ته
غوږ نیولو. ۱۴ نو زهٔ د تباهئ په غاړه ولاړ یم، او په ډېرو
خلقو کښې وشرمېدم.“ ۱۵ د خپلې ذخیرې اوبهٔ څښه، او
صرف د خپلې ښځې سره کوروالے کوه لکه څنګه چې د
خپل کوهی نه روانې اوبهٔ څښې. ۱۶ دا مناسب ده چې ستا
چینې په کوڅو کښې، او ستا د اوبو لختی په چوکونو کښې
وبهیږی؟ ۱۷ نو دا دې یواځې ستا وی، کله دې هم د پردو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره شریک نهٔ شی. ۱۸ ستا چینې دې برکتی شی، د خپلې
ښځې سره خوشحاله اوسه چې ستا په ځوانئ کښې ورسره
وادهٔ شوے وو، ۱۹ چې هغه د یوې ښُکلې مینه ناکې او
مهربانه هوسئ په شان ده نو د هغې د بدن ښُکلا دې تا معمور
کړی، او تهٔ دې هر وخت د هغې د مینې غلام یې. ۲۰ زما
زویه نو تهٔ دې ولې د یوې زناکارې ښځې په مینه کښې راګېر
یې؟ او تهٔ ولې د بل سړی د ښځې سره یو ځائ کېږې او غاړه
غتئ کېږې؟ ۲۱ نو د انسان په ټولو لارو د مالِک خُدائ نظر
دے، او هغه په خپله د هغهٔ د ټولو لارو څارنه کوی. ۲۲ د
شریر شرارت هم د هغهٔ دپاره دام دے. او د هغهٔ د ګناه رسئ
هغه کلک رانیسی. ۲۳ هغه به د خپل تربیت د کموالی په
وجه مړ شی، او د خپل کم عقلتوب په سبب بې لارې شوے
دے.

## د بل چا د قرض ضمانت مهٔ کوه

6 ۱ زما زویه، کهٔ چرې تا د خپل ګاونډی دپاره په
ضمانت کښې څهٔ ایښی وی، او یا تا د بل چا د قرض د
ورکولو وعده کړې وی، ۲ کهٔ تهٔ چرې د خپلو خبرو په
وجه په لټ کښې راګېر شوے یې، او په دام کښې د خپلې
خولې د لاسه راګېر شوے یې، ۳ نو بیا زما زویه، په دې
کولو سره تهٔ د خپل ګاونډی په لاسونو کښې پرېوتې، نو د
هغهٔ د دام نه د خلاصېدو دپاره، هغهٔ له ورشه او خپل ځان
کمزورے کړه او هغهٔ ته مِنت زاری وکړه چې هغه تا د دې
ذمه وارئ نه آزاد کړی. ۴ زر ورشه مهٔ اودهٔ کېږه او خپلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سترګې مرغۍ مرغۍ کېدو ته مهٔ پرېږده. ۵ نو خپل ځان
لکه د هوسۍ په شان د ښکاری نه او لکه د مارغهٔ په شان
خپل ځان د ښکاری د جال نه آزاد کړه. ۶ ناراسته خلقو
مېږو ته وګورئ، او د هغوئ په چال چلن باندې غور وکړئ
او هوښيار شئ. ۷ دوئ نهٔ مشر لری، او نهٔ څوک آفسر او
نهٔ حکمران لری، ۸ خو دوئ په اوړی کښې خپل خوراک
راټولوی، او خپل ځان دپاره خوراک په لو کښې راجمع
کوی. ۹ خو تهٔ ناراسته سړيه ترڅو پورې به پروت يې؟ او
تهٔ به کله د خوب نه راپاڅې؟ ۱۰ تهٔ وائې، ”لږ وخت دپاره به
اودهٔ شم، او سترګې به پټې کړم، لږ به خپل لاسونه راغونډ
کړم او آرام به وکړم.“ ۱۱ نو بيا به غريبی او نيستی د وسله
بند ډاکو په شان په تا باندې حمله وکړی. ۱۲ بدمعاشان او
کمينه خلق، ټوله ورځ تش دروغ وائی. ۱۳ هغوئ سترګې
وهی او ستا د دوکه کولو دپاره په پښو او ګوتو اِشارې کوی،
۱۴ د هغوئ کاږهٔ زړونه خرابې منصوبې جوړوی، نو دغه
شان هغوئ تل په هر ځائ کښې سرخوږے پيدا کوی. ۱۵
نو په هم دې وجه په داسې کس باندې ناګهانی افت راځی، او
ناګهانه به هغه ټوټې ټوټې شی او بيا به د جوړېدو نهٔ وی. ۱۶
شپږ څيزونه دی چې مالِک خُدائ ترې نه نفرت کوی بلکې
اووهٔ څيزونه دی چې مالِک خُدائ هغه نهٔ شی برداشت
کولے، ۱۷ مغروره سترګې، دروغژنه ژبه، هغه لاسونه چې
بې ګناه وينه تويوی، ۱۸ هغه زړهٔ چې بدې منصوبې
جوړوی، هغه پښې چې د شرارت طرف ته منډې وهی، ۱۹
دروغژن ګواه څوک چې دروغ وائی، او هغه کس چې د
خاندان په مينځ کښې سرخوږے پيدا کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د زنا خِلاف خبردارے

۲۰ زما زویه، د پلار په حُکمونو عمل کوه، او د خپلې مور
لارښودنه مهٔ هېروه. ۲۱ د هغوئ خبرې تل دپاره په خپل زړهٔ
کښې يادې ساته، او د هار په شان يې په خپله غاړه کښې
ګرځوه. ۲۲ هرکله چې تهٔ روان يې نو هغه به ستا رهنمائی
کوی، او کله چې اودهٔ يې نو هغه به ستا حفاظت کوی،
هرکله چې راويښ شې، نو هغه به درته مشوره درکوی. ۲۳
نو د هغوئ حُکمونه ډيوه ده او د هغوئ هدايت رڼا ده، او د
هغوئ اصلاح د ژوندون لار ده. ۲۴ دا به تا د بدکاره ښځو
نه ساتی، او د زناکارو ښځو د نرمو خبرو نه به دې ساتی.
۲۵ د هغوئ په ښائست خپل زړهٔ مهٔ بائيله، او نهٔ چې د هغې
سترګې وهل تا راګير کړی. ۲۶ يوه کنجره تهٔ د يوې روټۍ په
قيمت اخستے شی، خو د بل سړی د ښځې سره زنا به ستا د
ژوند په قيمت وی. ۲۷ څوک په خپله جولۍ کښې بل شوے
اور د کپړو سوزېدلو نه بغير اوچتولے شی څهٔ؟ ۲۸ څوک
په ګرمو سکروټو باندې بغير د پښو پولۍ کېدو او سوزېدو نه
ګرځېدلے شی څهٔ؟ ۲۹ نو دا کس هم د هغه چا په شان دے
څوک چې د بل چا د ښځې سره خملی، څوک هم چې د هغې
سره زنا کوی نو د سزا نه به خلاص نهٔ شی. ۳۰ خلق هغه
غل ته سپک نهٔ ګوری څوک چې د خپلې لوږې د ختمېدو
دپاره غلا کوی، ۳۱ خو کهٔ هغه ګير شی، نو هغه به اووهٔ
چنده ورکوی، کهٔ څهٔ هم د هغهٔ د کور په ټول سامان يې
قيمت پوره کيږی. ۳۲ خو کهٔ يو سړے زنا کوی نو هغه
بېحده کم عقل دے، ځکه چې هغه خپل ځان تباه کوی. ۳۳
هغه به وهل وخوری او بېعزته به شی، او دا شرم به هيڅکله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ نه اخوا نهٔ شی. ۳۴ نو غیرت به یې د خاوند قهر
راوپاروی او په بې‌رحمۍ سره به خپله بدله اخلی. ۳۵ هغه به
د دې په بدل کښې معاوضه نهٔ قبلوی او هغه به رشوت هم رد
کړی کهٔ څومره ډېر هم وی.

## د بدکارو ښځو په حقله خبردارے

۷ ۱ زما زویه، زما خبرې ځان سره وساته او زما احکام
خپل ځان سره حفظ کړه. ۲ زما په حُکمونو عمل کوه، نو
تهٔ به ژوندے پاتې شې. زما د تعلیماتو داسې حفاظت وکړه
لکه څنګه چې د سترګې د ګاتې کوې. ۳ هغه د خپلو ګوتو
سره ونښلوه او د خپل زړهٔ په تخته یې ولیکه. ۴ حِکمت ته
ووایه چې، ”تهٔ زما خور یې،“ او پوهې ته خپل نزدې رشته‌دار
ووایه. ۵ دوئ به تا د زناکارې ښځې سره د تعلق نه
وساتی، او هم به دې دوئ د زناکارې ښځې د دوکه کوونکو
خبرو نه وساتی. ۶ یو ځل ما د خپل کور د کړکۍ د جالۍ
نه بهر وکتل، ۷ نو ما څهٔ ساده ځوانان وکتل، نو د دوئ په
مینځ کښې مې یو کم عقل ځوان د نظر لاندې راغے. ۸ نو
هغه د هغې د کور سره په نزدې کوڅه کښې روان وو، کومه
لار چې د هغې کور ته تلې وه، ۹ د ماښام په وخت کښې،
تیارهٔ خوره شوه او شپه شروع شوه. ۱۰ نو بیا یوه ښځه بهر
راغله چې د هغهٔ سره مِلاو شی. هغې د کنجرتوب جامې
اغوستې وې، او په غلط خیال سره چې هغه دوکه کړی. ۱۱
هغه بې‌شرمه او بې‌حیا ښځه وه چې ټوله ورځ هواګیره
ګرځېدله. ۱۲ هغه تل په کوڅو، او په چوکونو کښې ګرځی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ښار په هر ګوټ کښې ولاړه وى. ۱۳ هغې هغهٔ له غاړه
ورکړه او ښُکل يې کړو، او په خپلو بېشرمو سترګو سره يې
هغهٔ ته ووئيل، ۱۴ ”نن ما کره د قربانۍ غوښه ده او ما خپل
نذر پوره کړو. ۱۵ نو زهٔ بهر راووتلم چې تا سره مِلاو شم،
ما ستا لټون کولو او تهٔ راته مِلاو شوې. ۱۶ ما په خپل کټ
باندې د مِصر رنګارنګ د لتې څادرونه اچولى دى. ۱۷ ما په
خپل کټ باندې د مُر چيڼ، عُود او دارچينۍ خوشبو لګولې
ده. ۱۸ راځه چې تر سحره پورې په مينه کښې ډُوب شُو. او
د يو بل د مينې نه خوند واخلو. ۱۹ ځکه چې زما خاوند په
کور کښې نشته. هغه په لرې سفر باندې تلے دے. ۲۰ هغهٔ
خپل جيب د پېسو نه ډک کړے دے، او د دې مياشتې تر
آخره به واپس نهٔ راځى.“ ۲۱ نو په نرمو خبرو سره يې هغه
غلط کړو، او د هغې پستو خبرو وغلولو. ۲۲ نو هغه
سمدستى هغې پسې د يو داسې غوَيى په شان روان شو لکه
چې حلالېدو له روان وى، لکه چې هوسۍ په دام کښې ونښلى
۲۳ ترڅو چې يو غشے د هغهٔ زړهٔ غوڅ کړى. هغه د يو
داسې مارغهٔ په شان وو چې د دام طرف ته منډې وهى، هغهٔ
ته پته نهٔ وى چې هغه به د ژوند نه لاس ووينځى. ۲۴ نو بيا
زما زامنو، ما ته غوږ ونيسئ، زهٔ چې درته څهٔ وايم نو هغې ته
توجو وکړئ. ۲۵ خپل زړهٔ ته اجازت مهٔ ورکوه چې د داسې
ښځې طرف ته مائل شى، او يا د هغې په غلطو لارو روان
شى. ۲۶ هغه د ډېرو کسانو د تباهۍ سبب شوې ده او د
بېشمېره کسانو د مرګ سبب شوې ده. ۲۷ د هغې کور د
قبر طرف ته لار ده، او دا د مرګ دالان ته لاربښودنه کول دى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د پوهې آواز

٨ ١ غوږ شئ. ولې پوهه آوازونه نۀ کوی څۀ؟ پوهې خپل
آواز نۀ دے پورته کړے څۀ؟ ٢ هغه په اوچتو ځايونو د
لارې په خوا کښې، او چرته چې لارې په خپلو کښې ملاوېږی
ولاړه وی. ٣ هغه ښار ته د ننوتو او راوتو دروازو په خوا
کښې ولاړه وی او په زوره چغې وهی، ٤ ”اے خلقو زۀ
تاسو ټولو ته آواز کوم، او په زمکه باندې ټولو انسانانو ته
آواز کوم. ٥ اے ساده خلقو، احتياط زده کړئ، اے
بېوقوفو. عقل حاصل کړئ. ٦ غوږ شئ. ما سره ستاسو
دپاره اعلیٰ خبرې دی، او زۀ چې شونډې پرانيزم نو هغه څۀ
وايم څۀ چې صحيح وی. ٧ زما خولۀ هغه څۀ وائی څۀ
چې رښتيا وی، ځکه چې زما شونډې د دروغو نه نفرت
کوی. ٨ زما د خولې ټولې خبرې صحيح دی، يو خبره يې
هم کږه يا د دوکې نۀ ده. ٩ هوښيار په دې پوهيږی چې زما
ټولې خبرې ټيک دی، چا سره چې عِلم وی هغۀ ته پته وی
چې دا صحيح دی. ١٠ د سپينو زرو په ځائ زما لارښودنې
غوره کړئ، او د خالص سرو زرو نه عِلم خوښ کړئ. ١١
ځکه چې حِکمت د قيمتی کاڼو نه هم ګران دے، او ستا د
خوښې يو څيز هم د دې برابر نۀ دے. ١٢ زۀ حِکمت د پوهې
سره يو ځائ اوسېږم، او ما سره عِلم او تميز شته. ١٣ د
مالِک خُدائ نه ويرېدل دا دی چې د بدۍ نه نفرت وکړئ، زۀ
د غرور، کبر او غلط چال چلن او بدو خبرو نه نفرت کوم.
١٤ ښې مشورې او تميز ورکول زما کار دے، زۀ پوهه او
طاقت لرم. ١٥ زما په وجه بادشاهان حکومت کوی او
حکمرانان منصفانه قانون جوړوی. ١٦ زما په وجه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شهزادګان حکومت کوی، او ټول صادق حکمرانان څوک
چې په زمکه حکومت کوی. ۱۷ زۀ د هغه چا سره مينه کوم
څوک چې ما سره مينه کوی، او څوک چې زما لټون کوی
نو ما بيامومی. ۱۸ ما سره مال او عزت دے، تر ډېر وخته
دولت او صداقت دے. ۱۹ زما مېوه د سوچه سرو زرو نه
ښۀ ده، او زما پېداوار د خالصو سپينو زرو نه بهتر دے. ۲۰
زۀ د صداقت په لاره روان يم، او د اِنصاف په لارو عمل
کوم، ۲۱ څوک چې ما سره مينه کوی په ميراث کښې ورته
دولت ورکوم، او د هغوئ خزانې به ډکې کړم. ۲۲ مالِک
خُدائ د هر څۀ نه وړاندې چې نور څۀ پېدا کړی، د ټولو نه
اول يې زۀ پېدا کړم. ۲۳ زۀ يې د ازل نه مقرر کړے وم، د
دې نه مخکښې چې دُنيا لا پېدا شوې هم نۀ وه. ۲۴ کله چې
لا سمندر نۀ وو زۀ پېدا شوے وم، کله چې لا د چينو اوبۀ نۀ
وې روانې شوې. ۲۵ مخکښې د دې نه چې لا غرونه او
غونډۍ په خپل ځائ نۀ وُو ولاړ زۀ پېدا شوے وم، ۲۶ د
هغې نه وړاندې چې لا خُدائ پاک زمکه او د هغې پټی او لا نۀ
يې د دُنيا خاوره پېدا کړې وه چې زۀ پېدا وم. ۲۷ زۀ هلته
وم هر کله چې هغۀ آسمان په خپل ځائ ودرولو، او کله چې
يې د سمندر په مخ د فضا لهرونه خوارۀ کړل، ۲۸ کله چې
هغۀ بره وريځ مقرر کړه او کله چې د سمندر د ډکولو دپاره
چينې جوړې کړې، ۲۹ او کله چې هغۀ سمندر ته حد مقرر
کړو، ترڅو چې اوبۀ د هغۀ د حُکم نه يو قدم هم زيات وانۀ
خلی، او کله چې هغۀ د زمکې بنيادونه کېښودل نو زۀ هلته
وم. ۳۰ زۀ د هغۀ په څنګ کښې وم څوک چې د ټولو نه ښۀ
ګلکار دے، زۀ هره ورځ د هغۀ د خوشحالۍ سبب وم، او ما
تل د هغۀ په حضور کښې خوشحالی کوله، ۳۱ زۀ د هغۀ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټوله دُنیا کښې ډېره خوشحاله وم، او د انسانانو نه مې
خوشحالی حاصلوله. ۳۲ نو اوس اے زما زامنو، ما ته غوږ
ونیسئ، مبارک دی هغوئ څوک چې زما په لارو عمل کوی.
۳۳ زما تعلیماتو ته غوږ شئ او هوښیار شئ، دا مهٔ نظر
انداز کوئ. ۳۴ مبارک دے هغه څوک چې ما ته غوږ نیسی،
چې روزانه زما په دروازه کښې ولاړ وی، او زما په دروازه
کښې انتظار کوی. ۳۵ ځکه چې څوک ما ومومی نو هغه
ژوند مومی، او د مالِک خُدائ رضا حاصلوی. ۳۶ خو
څوک چې ما نهٔ حاصلوی خپل ځان ته نقصان ورکوی، هر
څوک چې زما نه نفرت کوی نو هغه د مرګ سره مینه
کوی."

## د کم عقلو دپاره د پوهې دعوت

۹ ۱ پوهې خپل کور جوړ کړے دے، او خپل ځان دپاره
یې اووهٔ ستنې تراشلې دی. ۲ هغې خپله غوښه تیاره کړې
ده او مے یې یو ځائ کړی دی، او دسترخوان یې هم خور
کړے دے. ۳ هغې خپله وینځه ورولېږله او هغه د ښار د
اوچتو ځایونو نه آوازونه کوی. ۴ "څوک چې ساده ګان
وی هغوئ ټول دې دلته راشی." او هغه هغوئ ته وینا کوی
څوک چې ناپوهه وی، ۵ "راشئ، زما خوراک وخورئ او
هغه مے وڅښئ کوم چې ما ګډ کړی دی. ۶ خپله ساده
لار پرېږدئ نو تاسو به ژوندی پاتې شئ، او د پوهې په لار تلل
وکړئ." ۷ هر څوک چې د مسخره کوونکی اصلاح کوی
نو د خپلې بې‌عزتۍ دعوت ورکوی، هر څوک چې د شریر د
شرارت نه ممانعت کوی، نو خپل ځان به سپک کړی. ۸

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو تهٔ کله هم د مسخره کوونکی رټنه مهٔ کوه هغه به ستا نه
نفرت کوی، هوښیار ته تنبیه ورکړه هغه به تا سره مینه کوی.
٩ هوښیار ته لارښودنه وکړه نو هغه به نور هم هوښیار
شی، صادق ته تعلیم ورکړه نو هغه به د دې نه نور تعلیم هم
زده کړی. ١٠ د مالِک خُدائ یره د حِکمت شروع ده، د
مقدس ذات پېژندګلو د پوهې اصلیت دے. ١١ نو زما په
وجه به ستا د ژوند ورځې ډېرې شی، او ستا د عمر سره به
نور کلونه سېوا شی. ١٢ کهٔ چرې تهٔ حِکمت لرې نو هغه به
تا له فائده درکړی، او کهٔ تهٔ مسخره کوونکے یې نو صرف تا
ته به د هغې نقصان مِلاو شی. ١٣ کم عقله ښځه سرتېزه
وی، هغه بېادبه او بېعلمه وی. ١٤ د هغې کور د ښار په
لوړ ځائ کښې دے. د دروازې سره ناسته وی، ١٥ او
څوک چې په خپله لاره سیدها تېرېږی نو هغوئ ته آوازونه
ورکوی. ١٦ ”اے ساده خلقو ټول دلته راشئ.“ هغه ټولو
ناپوهو ته وینا کوی، ١٧ ”د غلا اوبهٔ خوږې وی، هغه روټۍ
چې په پټه خوړلے شی خوندوره وی.“ ١٨ خو دوئ لږ هم
په دې نهٔ پوهېږی چې د هغې ښځې په کور کښې صرف مرګ
دے، څوک هم چې د هغې په کور کښې مېلمانهٔ شوی دی نو
هغوئ اوس د تورو خاورو لاندې دی.

## د حضرت سلیمان متلونه

١٠ ١ دا د سلیمان متلونه دی، یو هوښیار زوئ خپل
پلار له خوشحالی ورکوی، خو کم عقل زوئ خپلې مور له غم
ورکوی. ٢ د حرام مال دولت هیڅ اهمیت نشته، خو
صداقت د مرګ نه خلاصون ورکوی. ٣ مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادق اوړی کېدو ته نۀ پرېږدی، خو د بدکارانو ارمان رد
کوی. ۴ ناراسته لاسونه یو انسان غریبوی، خو محنتی
لاسونه انسان مالداره کوی. ۵ ځوک چې په ګرمۍ کښې
فصل راټولوی هغه هوښیار زوئ دے، خو هغه زوئ ځوک
چې د لو په وخت کښې خوب کوی د شرم باعث دے. ۶
برکت د صادق د سر تاج دے، خو بدعمله په خپلو چالاکه
خبرو سره خپل شرارت پټوی. ۷ د نېکانو یادول د برکت
سبب ګرځی، خو د بد کاره نوم به فنا شی. ۸ هوښیاران په
نصیحت خوشحالیږی، خو بېوقوفه کړتن به تباه شی. ۹
نېک انسان به په امن کښې ګرځی، خو هغه ځوک چې کږې
لارې اختیاروی، د هغۀ کارونو نه به خلق خبر شی. ۱۰ هغه
ځوک چې په ټګۍ سره سترګې وهی نو د تکلیف باعث کیږی،
او په بېفکره خبرو سره به کم عقل تباه شی. ۱۱ د صادق
خولۀ د ژوند چینه ده، خو بدعمله په خپلو چالاکه خبرو سره
خپل شرارت پټوی. ۱۲ نفرت شر جوړوی، خو مینه په ټولو
بدو پرده اچوی. ۱۳ د هوښیار په شونډو کښې پوهه موندلے
کیږی، خو د ناپوهه دپاره چوکه وی. ۱۴ هوښیاران خپل
عِلم ذخیره کوی، خو د کم عقل فضول خبرې تباهۍ ته
دعوت ورکوی. ۱۵ د مالداره مال دولت د هغۀ دپاره قلعه
ده، خو غربت د غریب دپاره تباهی ده. ۱۶ د صادق ګټه
هغۀ له ژوند ورکوی، خو د بدکاره ګټه هغه د ګناه طرف ته
بوځی. ۱۷ هغه ځوک چې اصلاح قبلوی د ژوند په لاره ځی،
خو هر هغه ځوک چې اصلاح کول نۀ منی نو خپل ځان
بېلارې کوی. ۱۸ هغه ځوک چې خپل نفرت پټوی نو هغه
دروغژن دے. ځوک چې د نورو غیبت کوی هغه کم عقل
دے. ۱۹ هرکله چې خبرې ډېرې وی نو هلته ګناه هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موجوده وی، خو څوک چې خپله ژبه قابو ساتی هوښيار
دے. ۲۰ د صادق ژبه خالص سپين زر وی، خو د بدکاره
زړۀ بې‌اهميته وی. ۲۱ د صادق د خولې کلام ډېرو خلقو له
فائده ورکوی، خو کم عقل د ناپوهئ په وجه مړ شی. ۲۲ د
مالِک خُدائ برکت انسان مالداره کوی، او په کښې هيڅ قسم
غم نۀ سبوا کوی. ۲۳ کم عقل د غلط کار نه خوند اخلی،
خو هوښيار سړے د حِکمت نه خوند اخلی. ۲۴ د کوم شی
نه چې بدکاره يرېږی نو هم هغه به يې راګېر کړی، خو صادق
چې د کوم شی خواهش وکړی هغه به ورله ورکړے شی.
۲۵ هرکله چې طوفان راشی نو بدکاره جارُو کړی، خو
صادق به د تل دپاره قائم وی. ۲۶ لکه څنګه چې سرکه
غاښونه بربښوی او لوګے سترګې ترخوی، نو دغه شان
ناراسته د خپل مالِک دپاره دے. ۲۷ د مالِک خُدائ يره
عمر اوږدوی، خو د شرير عمر به لنډ وی. ۲۸ د صادق
اُميد خوشحالی ده، خو د بدکاره طمع به پوره نۀ شی. ۲۹ د
مالِک خُدائ لارې د صادقانو پناه ګاه وی، خو د هغه خلقو
دپاره تباهی وی څوک چې بدکارونه کوی. ۳۰ صادق به کله
هم د بېخ نه ختم نۀ شی، خو بدکاره به په زمکه پاتې نۀ شی.
۳۱ د صادق د خولې نه د عقل او حِکمت خبرې راوځی،
خو کږه ژبه به پرې کړے شی. ۳۲ د صادق شونډې په دې
پوهېږی چې کومه خبره د منلو او په ځائ ده، خو د بدکاره د
خولې نه صرف غلطې خبرې راوځی.

## ۱۱

۱ مالِک خُدائ د تلې د غلط استعمال نه نفرت
کوی، خو هغه په صحيح ناپ تول خوشحالېږی. ۲ کله
چې په انسان کښې غرور راشی نو په هغۀ رسوائی راشی، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د عاجزۍ سره حِکمت راځی. ۳ د صادقانو ایمانداری د
هغوئ لاربښودنه کوی، خو بې‌ایمانه په خپلې بې‌ایمانۍ تباه
دی. ۴ د عدالت په ورځ به مال دولت په کار نۀ راځی، خو
صداقت به ستاسو ژوند بچ کړی. ۵ د صادقانو صداقت د
هغوئ لار سموی، خو بدعمله به د خپلې بدعملۍ لاندې راګېر
شی. ۶ د صادقانو صداقت هغوئ بچ کوی، خو بې‌ایمانه
خپل لالچ کښې ګېر شی. ۷ کله چې یو بدعمله مری، د هغۀ
اُمید ختم شی. هر څومره اُمیدونه چې هغه د خپل مال د
طاقت نه لری هغه پناه شی. ۸ صادق سړے د تکلیفونو نه
خلاص وی، او دا تکلیفونه د هغوئ په ځائ په بدعمله خلقو
باندې راځی. ۹ په خپلو خبرو سره کافر خپل ګاونډیان
تباه کوی، خو صادق به د خپل عِلم په ذریعه بچ شی. ۱۰
کله چې صادقان برکتی شی نو ټول ښار په هغوئ خوشحالی
کوی، او کله چې بدعمله هلاک شی نو د خوشحالۍ چغې
راوچتې شی. ۱۱ د صادقانو د برکت په وجه ښار آبادیږی،
خو د بدعمله په خبرو هغه تباه کیږی. ۱۲ هغه څوک چې کم
عقل وی نو خپل ګاونډی ته سپک ګوری، خو هوښیار او
پوهه سړے خپله ژبه قابو کښې ساتی. ۱۳ غیبت کوونکے د
نورو راز خوروی، خو قابل اعتماد کس راز پټ ساتی. ۱۴
خو بغیر د رهنمایۍ نه په یو قوم باندې زوال راځی، خو ډېر
مشوره ورکوونکی کامیابی یقینی کوی. ۱۵ کۀ چرې څوک
د یو ناپېژندګلو کس ضمانت وکړی نو په یقین سره به دا
کس تاوانی شی، او کۀ څوک چا ته د ضمانت لاس ورنۀ
کړی نو هغه به بچ پاتې شی. ۱۶ یوه رحمدله ښځه عزت او
احترام ګټی، خو بې‌رحمه سړی مال دولت ګټی. ۱۷ یو
رحمدله کس خپل ځان ته فائده ورکوی، خو ظالم سړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان په تکليفونو کښې راګېروى. ۱۸ بدکاره سړے په
دوکه مال ګټى، خو هغوئ څوک چې د صداقت کرونده کوى
نو حقيقى اجر به ومومى. ۱۹ ربشتينے صادق سړے به
ژوندے پاتې شى، خو هغوئ څوک چې شرارت کوى نو خپل
مرګ ته روان دى. ۲۰ مالِک خُدائ د هغوئ نه نفرت کوى
د چا زړونه چې کاږۀ وى، خو هغه د هغوئ سره مينه کوى د
چا چال چلن چې بېداغه وى. ۲۱ په دې يقين وکړئ، چې
بدکاران به بېسزا پاتې نۀ شى، خو هغوئ څوک چې صادقان
دى هغوئ به آزاد وى. ۲۲ د تميز نه بغېر يوه ښُکلې ښځه
داسې وى لکه د سرو زرو نتکئ چې د خنزير په پوزه وى.
۲۳ د نېکانو اُميدونه په ښۀ څيزونو سره سر ته رسيږى، خو
د بدکارانو اُميد صرف د غضب په طرف وى. ۲۴ يو کس
چې سخاوت کوى، نو نور هم مالداره کيږى، خو يو بل کس
چې کنجوس وى نو نور به هم غريب شى. ۲۵ يو سخى
سړے به مالداره شى، او يو کس چې نور تازه کوى نو په
خپله به هم تازه شى. ۲۶ خلق د هغه چا نه نفرت کوى
څوک چې د ګرانئ دپاره غله ذخيره کوى، خو د هغه چا خير
غواړى څوک يې چې خرڅوى. ۲۷ کۀ چرې تۀ خير غواړې
نو تۀ به خير ومومې، خو شر هغه چا ته ورسيږى څوک يې
چې لټون کوى. ۲۸ څوک چې په خپل دولت باندې اعتبار
کوى نو هغه به پرېوځى، خو صادقان به د شنو پاڼو په شان
تازه وى. ۲۹ څوک چې د خپل خاندان دپاره مصيبت پېدا
کوى نو په ميراث کښې به ورته هوا پاتې شى، او کم عقل به د
هوښيار نوکر وى. ۳۰ د صداقت مېوه د ژوندون ونه ده،
خو هوښيار سړے زړونه ګټى. ۳۱ کۀ چرې صادقانو ته په
زمکه د دوئ د کردار اجر ملاويږى، نو د بدعمله او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۲

۱ ځوک چې اصلاح سره مينه لرى هغه د پوهې
سره مينه لرى، خو چې ځوک اصلاح نه نفرت کوى هغه کم
عقل دے. ۲ مالِک خُدائ د ښهٔ سړى نه خوشحاله وى،
خو مالِک خُدائ هغه کسان رد کوى چې د بدو منصوبې
جوړوى. ۳ انسان د بدعملۍ په ذريعه قائم نهٔ شى
جوړيدے، خو د صادقانو جرړه به کله هم نهٔ ختميږى. ۴
يوه پاک لمنه ښځه د خپل خاوند د سر تاج وى، خو يوه
بې‌حيا ښځه د هغهٔ په هډوکو کښې لکه د ناسور په شان وى.
۵ د صادقانو منصوبې د اِنصاف وى، خو د بدعملو په
نصيحت کښې هم دوکه وى. ۶ د بدعمله خلقو خبرې د
وينو توېدلو په طمع وى، خو د صادقانو خبرې د هغوئ ژوند
بچ کوى. ۷ بدعمله خلق مړهٔ شى او فنا شى، خو د
صادقانو خاندان کلک ولاړ وى. ۸ د سړى د خپل حِکمت
په مطابق صِفت کيږى، خو د خراب ذهن لرونکى سپک
کيږى. ۹ دا ښهٔ خبره ده چې انسان عام کس وى او نوکر
يې وى، په ځائ د دې چې ځان ته څهٔ وائى او د لوږې مرى.
۱۰ صادق انسان د خپلو ځناورو د ضرورتونو خيال ساتى،
خو د شرير ښهٔ عمل هم د ظلم نه ډک وى. ۱۱ ځوک چې
په خپله زمکه کښې محنت کوى نو هغهٔ سره به ډېر خوراک
وى، خو ځوک چې بې‌کاره منصوبو پسې ګرځى کم عقل
دى. ۱۲ بدعمله د بې‌دينه خلقو د لوټ شوى مال خواهش
کوى، خو د صادقانو جرړې خوريږى. ۱۳ بد کاره سړے په
خپلو خبرو کښې راګير شى، خو صادق انسان د مصيبت نه
بچ کيږى. ۱۴ انسان د خپلو شونډو په مېوه په ښهٔ څيزونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مړېږی، لکه څنګه چې د هغهٔ د لاسونو محنت دهٔ له اجر
ورکوی. ۱۵ کم عقلو ته خپل چال چلن ښهٔ ښکاری، خو
هوښيار سړے نصيحت ته غوږ نيسی. ۱۶ کم عقل انسان
خپله غصه زر ښکاره کوی، خو هوښيار سړے بې‌عزتی هم
نظر انداز کوی. ۱۷ رښتينے ګواه په صداقت سره ګواهی
کوی، خو دروغژن ګواه دروغ وائی. ۱۸ د بې‌پرواهۍ خبرې
د تُورې په شان غوڅول کوی، خو د عقلمند ژبه پرهرونو له
شفا ورکوی. ۱۹ رښتينې خبرې د تل دپاره قائمې وی، خو د
دروغو مزے لنډ وی. ۲۰ څوک چې د بدو منصوبې
جوړوی نو د هغوئ په زړونو کښې دوکه وی، خو خوشحالی
د هغه چا دپاره ده څوک چې امن راولی. ۲۱ صادقانو ته به
هيڅ نقصان نهٔ رسيږی، خو بدکاران به د مصيبت نه ډک
وی. ۲۲ مالِک خُدائ د دروغژونو شونډو نه نفرت کوی،
خو هغه د هر هغه چا نه خوشحاله وی څوک چې رښتينی
وی. ۲۳ هوښيار خپل عِلم نهٔ څرګندوی، خو کم عقل خلق
خپل جهالت ښکاره کوی. ۲۴ محنتی لاسونه به حکومت
کوی، خو ناراستی به دې غلام کړی. ۲۵ انديښمن زړهٔ
انسان لاندې کوی، خو نرمې او د ډاډ خبرې به هغه
خوشحاله کړی. ۲۶ صادق انسان په دوستانه کښې احتياط
کوی، خو د بدعمله چال چلن يې په غلطه لار بوځی. ۲۷
ناراسته انسان خپل ښکار هم نهٔ پخوی، خو محنتی انسان
خپل مال دولت اضافه کوی. ۲۸ د صداقت په لاره کښې
ژوندون دے، په دغه لار کښې مرګ نشته.

## ۱۳

۱ هوښيار زوئ د خپل پلار تربيت قبلوی، خو يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جاهله انسان ملامتیا ته غوږ نۀ نیسی. ۲ ښۀ انسان د خپلې
خولې د میوې نه د ښۀ څیزونو خوند اخلی، خو د غدارانو
زړونه د ظلم کولو خواهش کوی. ۳ څوک چې خپله ژبه په
قابو کښې ساتی نو هغه خپل ژوند بچ کوی، خو چې څوک نۀ
ساتی نو هغه به تباه شی. ۴ یو ناراسته کس ډیر څۀ غواړی
خو څۀ ورته نۀ ملاویږی، خو د محنت کوونکی خواهش تر
سره کیږی. ۵ صادقان د دروغو نه نفرت کوی، خو د
بدعملو کارونه د بې‌شرمۍ او بې‌عزتۍ سبب کیږی. ۶
صداقت د نیکو خلقو لارې ساتی، خو شرارت بدعمله تباه
کوی. ۷ یو انسان خپل ځان داسې ښائی چې ګنې مالداره
دے خو هیڅ هم نۀ لری، خو یو بل انسان خپل ځان غریب
ښائی، خو په اصل کښې ډیر زیات مالداره وی. ۸ د یو
انسان مال دولت کیدے شی چې د هغۀ د ژوند فدیه ورکړی،
خو غریب انسان ته خو څوک دهمکی قدرې هم نۀ ورکوی.
۹ د صادقانو رڼا ډیره ځلیږی، خو د بدعملو ډیوه په مړه
کیدو ده. ۱۰ غرور صرف لانجه پیدا کوی، خو حِکمت په
هغوئ کښې وی څوک چې نصیحت منی. ۱۱ حرام مال
دولت به زر ختم شی، خو هغه څوک چې په ورو ورو مال
جمع کوی هغوئ به دا اضافه کړی. ۱۲ هغه اُمید چې په
وخت پوره نۀ شی نو زړۀ بیماروی، خو کوم خواهش چې
پوره کیږی نو هغه د ژوندون ونه ده. ۱۳ څوک چې ښۀ
نصیحت ته سپک وګوری هغوئ به نقصانی شی، خو چې
څوک د حُکم احترام کوی هغوئ ته به اجر مِلاو شی. ۱۴ د
هوښیارانو تعلیم د ژوند سرچینه وی، کوم چې انسان د مرګ
د دامونو نه بچ کوی. ۱۵ ښۀ پوهه د انسان دپاره عزت پیدا
کوی، خو د بې‌ایمانانو لارې سختې وی. ۱۶ هر هوښیار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړے کار په حِکمت سره کوی، خو کم عقل د خپل جهالت
اظهار کوی. ۱۷ يو بدعمله پېغام وړونکے په مصيبت کښې
راګېرېږی، خو اعتمادی پېغام وړونکے د شفا باعث
جوړېږی. ۱۸ څوک چې تربيت نظر انداز کوی هغوئ به
غريب او شرمنده شی، خو څوک چې نصيحت قبلوی هغه به
عزتمند شی. ۱۹ کوم خواهش چې پوره شی نو دا روح دپاره
ډېر خوږ وی، خو کم عقل د بدکارۍ د اوړېدو نه نفرت کوی.
۲۰ څوک چې هوښيارانو سره ګرځی هغه هوښيارېږی، خو
د کم عقلو دوستانه نقصان ورکوی. ۲۱ مصيبت په
ګناهګارو پسې روان وی، خو سوکالی د صادقانو اجر دے.
۲۲ يو ښۀ انسان د خپل نسل دپاره ميراث پرېږدی، خو د
ګناهګارو مال دولت صادقانو ته حواله کېږی. ۲۳ د غريب
سړی پټی به ډېره غله پېدا کوی، خو بې اِنصافی به دا هر څۀ
جارُو کوی. ۲۴ هغه څوک چې خپل زوئ نه د تربيت چوکه
لرې ساتی هغه د هغۀ نه نفرت کوی، خو هغه څوک چې
ورسره مينه کوی هغوئ يې په تربيت ورکولو کښې احتياط
کوی. ۲۵ صادقان په مړه خېټه ډوډۍ خوری، خو د بدعملو
خېټه اوږی وی.

## ۱۴

۱ هوښياره ښځه خپل کور آبادوی، خو کم عقله
ښځه يې په خپلو لاسونو ورانوی. ۲ څوک چې په نېغه لار
ځی هغه د مالِک خُدائ نه يرېږی، خو چې څوک په غلطه لار
ځی هغه يې سپک ګنی. ۳ د کم عقل د خبرو نه يو ډنډا
جوړه شی چې هغه وهی، خو د هوښيارانو خبرې هغوئ بچ
ساتی. ۴ چرته چې غوَيي نۀ وی هلته اخور خالی وی، خو
د غوَيي د طاقت په وجه ډېر فصل پېدا کېږی. ۵ يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ربښتينے ګواه دروغ نۀ وائى، خو يو دروغژن ګواه ډوزې
وولى. ۶ مسخره کوونکى حِکمت لټوى او هيڅ نۀ مومى،
خو حِکمت آسانۍ سره تميز دارو له راځى. ۷ د کم عقلو
نه لرې اوسه، ځکه چې تۀ به د هغۀ د خولې نه حِکمت
حاصل نۀ کړې. ۸ د هوښيار حِکمت دا دے چې خپلو
لارو ته سوچ وکړى، خو د کم عقل کم عقلتوب هغه بې‌لارې
کوى. ۹ کم عقل خپلې د ګناه د تاوان د نذرانې پورې خندا
کوى، خو صادقان د مالِک خُدائ رضا حاصلوى. ۱۰ هر
څوک په خپل خفګان ښۀ پوهيږى، او نور هيڅوک د هغۀ په
خوشحالۍ نۀ پوهيږى. ۱۱ د بدعمله کور به تباه شى، خو د
صادقانو خيمه به آباده شى. ۱۲ د هر کس په وړاندې يوه لار
وى چې هغۀ ته ښۀ ښکارى خو په آخر کښې د دې خاتمه
مرګ وى. ۱۳ په خندا کښې هم زړۀ خفه کيږى او
خوشحالۍ نه وروستو هم خفګان پاتې شى. ۱۴ بې‌ايمانان
چې د څۀ حقدار وى هغه به ورته مِلاو شى او نيک انسان ته
به د دۀ د اعمالو په مطابق اجر مِلاو شى. ۱۵ يو ساده
سړے په هر څۀ باندې يقين کوى، خو هوښيار په هر قدم
اوچتولو سوچ کوى. ۱۶ هوښيار احتياط کوى او د غلط کار
نه ځان بچ ساتى، خو کم عقل په خپل ځان غاوره وى او د
هيڅ پرواه نۀ کوى. ۱۷ تاوجن خلق کم عقل کارونه کوى،
او د چالاکه انسان نه خلق نفرت کوى. ۱۸ ساده ګان په
ميراث کښې کم عقلتوب پرېږدى، خو هوښيارانو ته د عِلم
تاج ورپه سر وى. ۱۹ بدکاره انسانان به د نيکانو په حضور
کښې، او شريران به د صادقانو په دروازو کښې په سجده
شى. ۲۰ غريب د هيچا خوښ نۀ وى، تر دې چې خپل
ګاونډيان يې هم نۀ خوښوى، خو مالداره ډېر دوستان لرى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ هغه څوک چې خپل ګاونډی سپک ګڼي ګناه کوي، خو
بختور دے هغه څوک چې په غریب رحم کوي. ۲۲ کۀ
څوک بدې ارادې لري، هغه به ګمراه شي، کۀ څوک نېکې
ارادې لري، هغه به مينه او وفا ومومي. ۲۳ ټول سخت
کارونه فائده ورکوي، خو د تشو خبرو په وجه غربت راځي.
۲۴ د هوښيارانو مال دولت د دوئ تاج دے، خو د ناپوهه
هار صرف کم عقلتوب دے. ۲۵ يو رښتونے ګواه ژوند بچ
کوي، خو دروغژن ګواه دوکه مار وي. ۲۶ هغه څوک چې د
مالِک خُدائ نه يره کوي هغه به د هغۀ محفوظه قلعه وي، او
د هغۀ ماشومانو ته به دا پناه ګاه وي. ۲۷ د مالِک خُدائ يره
د ژوندون سرچينه ده، کوم چې انسان د مرګ د دامونو نه
ساتي. ۲۸ په ګڼو خلقو د بادشاه عزت جوړ وي، او د خلقو
نشتوالے د شهزاده تباهي ده. ۲۹ صبرناک سړے لويه پوهه
لري، خو غصه ناک سړے خپل کم عقلتوب په ګوته کوي.
۳۰ پُرسکونه زړۀ بدن له ژوندون ورکوي، خو حسد هډُوکی
بوسه کوي. ۳۱ څوک چې په غريبانانو ظلم کوي نو دا د
هغوئ د خالِق بې‌عزتي کوي، خو څوک چې په ضرورتمند
رحم کوي د خُدائ پاک احترام کوي. ۳۲ بدکاران په خپلو
بدو عملونو سره خپل ځان تباه کوي، خو تر دې چې
صادقان په مرګ کښې هم پناه ګاه لري. ۳۳ د هوښيارانو په
زړۀ کښې حِکمت ځائ نيسي، خو تر دې چې حِکمت په کم
عقلو کښې هم خپل ځان ښکاره کوي. ۳۴ صداقت سره
قوم عظيم شي او ګناه د هر چا دپاره رسوائي ده. ۳۵
بادشاه په هوښيار نوکر خوشحاليږي، خو هغه څوک چې
شرمېدلي کارونه کوي د هغۀ قهر راوچتوي.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ ۱ نرم جواب غصه سړوی، خو سخته خبره غصه
لمبه کوی. ۲ د هوښیارانو ژبه عِلم خوندور کوی، خو د
بې‌وقوفه خولۀ د کم عقلتوب سرچینه ده. ۳ د مالِک خُدائ
سترګې هر چرته موجودې دی، هغه ښۀ او بد دواړو باندې
نظر ساتی. ۴ نرمه ژبه د ژوندون ونه ده، خو ټګماره ژبه
روح ماتوی. ۵ کم عقل د خپل پلار تربیت ته سپک ګوری،
خو هر هغه څوک چې اصلاح قبلوی نو هغه هوښیار دے.
۶ د صادق په کور کښې لویه خزانه وی، خو د بدکاره ګټه
هغوئ ته تکلیف ورکوی. ۷ د هوښیارانو شونډې عِلم
خوروی، خو د بې‌عقله په زړۀ کښې داسې څۀ نۀ وی. ۸
مالِک خُدائ د بدکارانو د قربانۍ نه نفرت کوی، خو د نېکانو
دُعا هغه خوشحالوی. ۹ مالِک خُدائ د بدکارانو د چال
چلن نه نفرت کوی، خو هغه د هغوئ سره مینه کوی څوک
چې صداقت پسې روان وی. ۱۰ د هغه چا به سخت تربیت
وشی څوک چې صحیح لاره پرېږدی، څوک چې د اِصلاح
کولو نه نفرت کوی نو هغه به مړ شی. ۱۱ دا چې عالمِ ارواح
او دوزخ دواړه مالِک خُدائ ته ښکاری، نو د انسان زړۀ به
ورته څومره زیات څرګند وی؟ ۱۲ مسخره کوونکی اصلاح
نۀ خوښوی، نو ځکه چې د هوښیارانو سره مشوره نۀ کوی.
۱۳ خوشحاله زړۀ مخ شادابه ښائی، خو پرېشانه زړۀ د
انسان روح ماتوی. ۱۴ د هوښیارانو زړۀ د عِلم لټون کوی،
خو د کم عقل خولۀ په ناپوهۍ کښې څرېږی. ۱۵ د
مظلومانو د ژوند ټولې ورځې خرابې وی، خو خوشحاله زړۀ
هر وخت جشن کوی. ۱۶ د مالِک خُدائ په یره کښې لږ
آمدن غوره دے، د هغه ډېر مال دولت نه چې سکون په کښې
نۀ وی. ۱۷ دال ساګ دې وی خو چې مینې سره وی، کۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چرګ وی او نفرت ورسره وی نو فائده يې څۀ ده. ۱۸ غصه
ناک سړے صرف لانجه جوړوی، خو صبرناک سړے
جنګونه سړوی. ۱۹ د ناراسته لار د ازغو ډکه وی، خو د
نېکانو لارې لکه د پوخ سړک په شان وی. ۲۰ هوښيار زوئ
د خپل پلار دپاره د خوشحالئ ذريعه ده، خو بېوقوفه خپلې
مور ته سپک ګوری. ۲۱ کم عقلتوب هغه سړے
خوشحالوی څوک چې ناپوهه وی، خو هوښيار سړے په
سيدها لار روان وی. ۲۲ چرته چې صلاح مشوره نۀ وی نو
هلته منصوبې ناکامه شی، خو د ډېرو مشوره ورکوونکو په
ذريعه کاميابي حاصليږی. ۲۳ انسان په مناسب جواب
ورکولو خوشحاليږی، په مناسب وخت کښې ټيک خبره کول
څومره ښۀ وی. ۲۴ د هوښيارانو لار هغه بره د ژوندون
طرف ته بوځی، چې هغه قبر ته لاندې د تلو نه وساتی. ۲۵
مالِک خُدائ د مغرور کور سر د لاندې راغورزوی، خو هغه د
کونډې جائيداد محفوظ ساتی. ۲۶ مالِک خُدائ د بدو
منصوبو نه نفرت کوی، خو هغه په پاکو خبرو خوشحاليږی.
۲۷ لالچی خپل خاندان ته مصيبت وربه برخه کوی، خو
هغه څوک چې د رشوت نه نفرت کوی هغوئ به ژوندی پاتې
شی. ۲۸ صادقان د جواب ورکولو نه وړاندې سوچ کوی،
خو د بدکاره خولۀ فساد نولی. ۲۹ مالِک خُدائ د بدعمله
خلقو نه لرې وی، خو هغه د صادقانو دُعاګانې اوری. ۳۰
روڼ تندے زړۀ ته خوشحالی ورکوی، او ښۀ زيرے بدن تازه
کوی. ۳۱ هغه څوک چې ښې رټنې ته غوږ نيسی، نو هغوئ
به په هوښيارانو کښې وشميرلے شی. ۳۲ هغه څوک چې
تربيت رد کوی د خپل ځان سپکاوے کوی، خو هغه څوک
چې تربيت قبلوی نو دے عقلمندی حاصلوی. ۳۳ د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ یره حِکمت پیدا کوی، عاجزی د عزت وړومبے قدم
دے.

۱۶ ۱ انسان په خپل زړۀ کښې منصوبې جوړوی، خو د
هغوئ فیصلې مالِک خُدائ کوی. ۲ د انسان په نظر کښې
د هغۀ ټولې لارې هغۀ ته پاکې ښکاری، خو مالِک خُدائ د
هغۀ نیت آزمائی. ۳ هر یو کار چې تۀ کوې هغه مالِک
خُدائ ته سپاره، نو ستا منصوبې به کامیابې شی. ۴ مالِک
خُدائ هر څۀ د خپل مقصد د پوره کولو دپاره پیدا کړی دی،
تر دې چې بدکاران یې هم د تباهۍ د ورځې دپاره پیدا کړی
دی. ۵ مالِک خُدائ د ټولو مغروره خلقو نه نفرت کوی. په
دې یقین لرئ چې دوئ به بېسزا پاتې نۀ شی. ۶ د مینې او
وفا په ذریعه ګناهونه وینځلے کیږی، د مالِک خُدائ یره
انسان د بدو کارونو نه بچ کوی. ۷ کله چې مالِک خُدائ د
چا د کردار نه خوشحاله وی، نو د هغۀ دشمنان به هم د هغۀ
په امن کښې اوسیږی. ۸ په صداقت سره لږه ګټه ښۀ ده د
هغه ډیرې ګټې نه چې په بېاِنصافۍ وی. ۹ انسان په خپل
زړۀ کښې ځان ته د تګ لاره جوړوی، خو مالِک خُدائ د هغۀ
د قدمونو رهنمائی کوی. ۱۰ د بادشاه خبرې درنې وی، نو په
کار دے چې هغه اِنصاف پټ نۀ کړی. ۱۱ صحیح تله او
ناپ کول د مالِک خُدائ د طرفه دی، هغۀ د اِنصاف معیار
قائم کړے دے. ۱۲ بادشاهان د غلط کارونو نه نفرت کوی،
ځکه چې د هغوئ تخت د صداقت په بنیاد جوړ دے. ۱۳
بادشاهان د رښتینو شونډو نه خوشحالیږی، او هغوئ هغه
انسان سره مینه کوی څوک چې رښتیا وائی. ۱۴ د بادشاه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غضب د مرګ پیغام دے، خو هوښیار انسان به د هغهٔ قهر
سړوی. ۱۵ هر کله چې د بادشاه تندے روڼ وی نو دا د
ژوندون زیرے دے، نو په دې وخت کښې د هغهٔ رحم داسې
وی لکه د سپرلی وریځې چې باران ورَوی. ۱۶ د حِکمت
حاصلول د سرو زرو نه ښو چنده ښهٔ دے، او د عقل
حاصلول د سپینو زرو نه ښو چنده ښهٔ دے. ۱۷ د نېکانو
لارې د هر قسم غلط کار نه لرې وی. هر هغه څوک چې د
خپلو لارو خیال ساتی نو هغه خپل ژوند بچ کوی. ۱۸ غرور
انسان د تباهئ طرف ته بوځی، او د راپرېوتلو نه وړاندې تکبر
راځی. ۱۹ د انسان دپاره دا بهتره ده چې عاجز خویه وی او
د مظلومانو سره ناسته پاسته کوی، د دې په ځائ چې د
مغرورانو په غنیمتونو کښې شریک شی. ۲۰ هر څوک چې
لارښودنو ته توجو ورکړی نو کامیاب به وی، او بختور دے
هغه څوک چې په مالِک خُدائ باور کوی. ۲۱ څوک چې
هوښیار وی هغه تمیزدار ګڼلے شی، نرمې خبرې په هدایت
کولو کښې ښهٔ اثر کوی. ۲۲ د هغه چا دپاره حِکمت د ژوند
سرچینه ده څوک یې چې لری. خو کم عقلتوب د بېوقوفه
دپاره د سزا باعث کیږی. ۲۳ د قابل سړی زړهٔ د هغهٔ خولهٔ
قابو کوی، او د هغهٔ کلام موثر کوی. ۲۴ نرمې خبرې د
شاتو د ګبین په شان وی، د ځان دپاره خوږې او د هډوکو
دپاره درمان وی. ۲۵ یوه داسې لار شته چې انسان ته
صحیح ښکاری، خو په آخر کښې هغه د مرګ طرف ته تلې
وی. ۲۶ د مزدور لوږه هغه په کار لګیا کوی، ځکه چې هغه
خپله لوږه ختمول غواړی. ۲۷ بدعمله داسې کار لټوی چې
نورو ته ترې نه تکلیف ورسیږی، د هغوئ خبرې هم
سوزونکے اور ورَوی. ۲۸ بدکاره انسان لانجه جوړوی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چغلخور نزدې دوستان په خپلو کښې جدا کوى. ۲۹
ظالمان خپل دوستان بې‌لارې کوى او د تباهۍ طرف ته يې
بوځى. ۳۰ هر هغه څوک چې سترګې وروځې وهى هغه کږې
وَږې منصوبې جوړوى، او څوک چې خپلې شونډې مروړى
نو هغه په غلطو منصوبو سر شوى وى. ۳۱ سپين ويښتهٔ د
عزت تاج دے، کوم چې د صداقت د ژوندون نه حاصليږى.
۳۲ صبرناک انسان د يو طاقتور سپاهى نه بهتر دے، څوک
چې په خپله غصه قابو ساتى، د هغه چا نه بهتر دے چې يو
ښار فتح کوى. ۳۳ انسان خو مېدان ته چکه ولى، خو د هر
چا فيصله د مالِک خُدائ په لاس کښې وى.

# ۱۷

۱ د سکون سره سپوره روټۍ بهتره ده د هغې کور
نه چې په کښې ښهٔ خوراکونه د لانجو سره وى. ۲ يو
هوښيار نوکر به د مالِک په شرمېدلى زوئ باندې حُکم
چلوى، او په ميراث کښې به ورته حِصه هم لکه د يو ورور په
شان مِلاو شى. ۳ سرهٔ زر او سپين زر په اور معلومولے
شى، خو زړونه مالِک خُدائ معلوموى. ۴ بدکاره انسان
خرابو خبرو ته غوږ نيسى او دروغژن غيبت ته توجو ورکوى.
۵ هر هغه څوک چې په غريبانانو پورې خندا کوى، نو د
هغهٔ د خالِق بې‌عزتى کوى او هر هغه څوک چې د چا په
بدبختۍ خوشحاليږى نو دے به هم بې‌سزا پاتې نهٔ شى. ۶
نمسى د خپلو مشرانو دپاره تاج وى، او ماشومان په مور پلار
فخر کوى. ۷ کهٔ هوښيارې خبرې د يو کم عقل دپاره
نامناسبه وى، نو د يو بادشاه دپاره به دروغژنې شونډې
څومره نامناسبه وى. ۸ رشوت د ورکوونکى دپاره د جادو
په شان وى، ځکه هغه چې هر څهٔ کوى نو کاميابيږى. ۹

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر هغه څوک چې د نورو خطاګانې معاف کوی نو مينې ته
وده ورکوی، خو هر هغه څوک چې يوه خبره بار بار
تکراروی نو نزدې دوستان سره جدا کوی. ۱۰ يو هوښيار
کس په يو ځل تنبيه کولو سره دومره زيات متاثره کيږی، نه
چې يو کم عقل په سلو کوړو. ۱۱ بدکاره صرف سرکشۍ
پسې ليونی وی، خو دوئ ته به سخته سزا مِلاو شی. ۱۲ دا
بهتره ده چې د هغې مېلوګی سره دې واسطه راشی چې بچی
ترې چا پټ کړی وی په ځائ د دې چې يو بېوقوفه په خپل
کم عقلتوب ټينګار کوی. ۱۳ کۀ چرته يو انسان د ښو په بدل
کښې بد کوی، نو د هغۀ د کور نه به هيڅکله بدی ختمه نۀ
شی. ۱۴ د خراب بحث شروع داسې وی لکه چې د اوبو په
بند کښې وړومبے سورے وشی، د دې نه مخکښې چې جنګ
شروع نۀ شی نو دا زر ختم کړه. ۱۵ بدعمله کس پرېښودل،
او بېګناه له سزا ورکول، مالِک خُدائ د دې دواړو کارونو نه
نفرت کوی. ۱۶ په کم عقل د خرچې کولو څۀ فائده نشته،
ځکه چې هغه په خپله د عقل زده کولو خواهش نۀ کوی. ۱۷
دوست په هر وخت کښې مينه کوی، او ورور هغه دے چې
په مصيبت کښې په کار راشی. ۱۸ څوک چې کم عقل وی
خپل لاس د ګاونډی په ځائ په ضمانت کښې بل له ورکوی.
۱۹ هر هغه څوک چې د جنګ جګړو سره مينه کوی د ګناه
سره مينه کوی، هر هغه څوک چې په لوړه ګرځی نو تباهۍ له
دعوت ورکوی. ۲۰ هر څوک چې بد ګُمانه وی نو هغه به
برکت ونۀ مومی، د چا ژبه چې دوکه ماره وی په مصيبت
کښې به راګير شی. ۲۱ د چا په کور کښې چې بېوقوفه
زوئ پيدا شی نو په کور کښې غم او پريشانۍ راولی، د
بېوقوفه د پلار دپاره خوشحالی نشته. ۲۲ خوشحاله زړۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول بدن دپاره ښۀ دوائی ده، خو مات زړۀ هډُوکی هم
اوچوی. ۲۳ بدکاران په پټه رشوت اخلی د اِنصاف په لاره
کښې دوئ مداخلت پېدا کوی. ۲۴ د یو پوهه انسان مقصد د
عقل حاصلول وی، خو د بېوقوفه لټون بېمقصده وی. ۲۵
کم عقل زوئ د خپل پلار د غم باعث وی، او د تریخوالی
باعث د هغه چا دپاره وی د چا نه چې پېدا وی. ۲۶ یو
بېګناه له سزا ورکول ښۀ خبره نۀ ده، او نۀ یو شریف له د
هغۀ د شرافت په وجه کوړې ورکول ښۀ خبره ده. ۲۷ یو
هوښیار ډیرې کمې خبرې کوی، او یو پوهه کس نرمې خبرې
کوی. ۲۸ تر دې چې یو کم عقل هم هوښیار ګڼلے شی کله
چې دے غلے وی، او تمیزدار ښکاری کۀ چرې دے خپله
خولۀ بنده ساتی.

۱۸ ۱ بېخونده کس هر څۀ د خپلې خوښې په مطابق
کوی، او د هرې صحیح فیصلې مخالفت کوی. ۲ کم عقل
د پوهې نه خوند نۀ شی اخستے، خو هغه په خپلو نظریو
څرګندولو خوشحالیږی. ۳ کله چې بدکاری راشی نو
رسوائی هم راځی، او د شرم سره سپکوالے راځی. ۴ د
انسان د خولې خبرې لکه ژورې اوبۀ دی، او د حِکمت چینه
لکه بهیدونکې وله ده. ۵ دا ښۀ خبره نۀ ده چې د مجرم
طرفدارے وشی یا بېګناه د اِنصاف نه محروم شی. ۶ د
کم عقل خبرې جنګ جوړوی، او خپل ځان وهلو ته جوړوی.
۷ د کم عقل خولۀ د هغۀ خپله تباهی ده، او د هغۀ خبرې د
هغۀ د خپل ځان دام دے. ۸ د غیبت کوونکی خبرې لکه د
خوندور خوراک په شان وی، دا بلکل د سړی دننه بدن ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوزیږی. ۹ څوک چې په خپل کار کښې سست وی هغه
لکه د هغه ورور په شان دے څوک چې تباهی راولی. ۱۰ د
مالِک خُدائ نوم مضبوطه قلعه ده، صادقان هلته منډه وهی
او په حفاظت کښې وی. ۱۱ د مالداره دولت د هغوئ دپاره
د مضبوط ښار په شان وی او په دې خيال چې دا به د هغوئ
د حفاظت يو اوچت دېوال وی. ۱۲ د تباهئ نه وړاندې د
انسان زړهٔ کښې کبر وی، خو د عزت نه وړاندې عاجزی
راځی. ۱۳ څوک چې د خبرې اورېدو نه مخکښې جواب
ورکوی، دا د هغهٔ کم عقلتوب دے او د هغهٔ شرم دے. ۱۴
د انسان روح بيماری هم برداشت کولے شی، خو مات روح
به څوک وزغمی؟ ۱۵ هوښياران تل د عِلم حاصلولو په لټون
کښې وی، او د هغوئ غوږونه د عِلم زده کولو دپاره تيار وی.
۱۶ تحفه د انسان دپاره لار خلاصوی، او د هغهٔ لاس تر غټو
خلقو پورې رسوی. ۱۷ څوک چې په عدالت کښې خپله
دعوىٰ اول پېش کړی نو هغه صحيح ښکاری ترڅو چې بل
څوک راشی او هغهٔ نه تپوسونه شروع کړی. ۱۸ په پچې
اچولو جنګونه ختمېږی، او د مضبوطو مخالفينو په مينځ
کښې جنګ ختموی. ۱۹ د يو خفه شوی ورور رضا کول د
يو مضبوط ښار د فتح کولو نه سخت وی، او لانجې د قلعې
دروازو ته اړمونه اچوی. ۲۰ د خپلې خولې په مېوه انسان
خپله خېټه مړه کړی او د خپلو شونډو په فصل هغه مطمئن
شی. ۲۱ په ژبه کښې د مرګ او ژوند طاقت شته دے، او
څوک چې دې سره مينه کوی هغوئ ته به يې نتيجه مِلاو شی.
۲۲ چا ته چې ښهٔ ښځه مِلاو شوه دا د هغهٔ دپاره خزانه ده،
او هغه ورته د مالِک خُدائ د خوا نه برکت دے. ۲۳ غريب
سړے د رحم دپاره مِنت زاری کوی، خو مالداره سړے په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سختۍ سره جواب ورکوی. ﴿٢٤﴾ ځینې دوستان یو بل ته کنده
کنی، خو رښتینے دوست د خپل وروړ نه هم وفادار وی.

## ١٩

﴿١﴾ دا بهتره ده چې یو سړے غریب وی او په
ایماندارۍ سره ژوند تېروی، د هغه چا نه چې دروغژن او کم
عقل وی. ﴿٢﴾ د عِلم نه بغیر جذبات ځرګندول ښۀ نۀ دی، او
بې‌صبری لار خطا کوی. ﴿٣﴾ د انسان کم عقلتوب د هغۀ
ژوند تباه کوی، او بیا د هغۀ تریخوالے د مالِک خُدائ خلاف
وی. ﴿٤﴾ دولت ډېر دوستان پیدا کوی، خو غربت ټول
دوستان د هغۀ نه شړی. ﴿٥﴾ دروغژن ګواه به د سزا نه نۀ بچ
کیږی، او څوک چې دروغ وائی هغه به بچ پاتې نۀ شی. ﴿٦﴾
ډېر خلق د حاکِم خوشامندی کوی، او هر څوک د هغه چا
دوست وی څوک چې تُحفې ورکوی. ﴿٧﴾ کۀ د غریب سړی
نه د هغۀ رشته‌دار ډډه کوی، نو بیا به د هغۀ دوستان د هغۀ نه
څومره نور هم ډډه کوی. کۀ څۀ هم چې هغه د هغوئ سره د
خبرو کولو کوشش کوی، خو هغوئ ترې نه لاړ شی. ﴿٨﴾
څوک چې حِکمت حاصلوی نو د خپل ځان سره مینه کوی،
څوک چې پوهه خوښوی هغۀ ته برکت ملاویږی. ﴿٩﴾
دروغژن ګواه به د سزا نه نۀ بچ کیږی، او څوک چې دروغ
وائی هغه به تباه شی. ﴿١٠﴾ کم عقل سره عیش عشرت ښۀ نۀ
ښکاری، او دا به لا څومره نامناسبه وی کۀ چرې یو غلام په
شهزادګانو حکومت کوی. ﴿١١﴾ د انسان حِکمت د هغۀ غصه
قابو کوی، او د بل بد ځان ته نۀ ودرول هغۀ ته عزت ورکوی.
﴿١٢﴾ د بادشاه غصه د ازمری د غړمبېدو په شان وی، خو د
هغۀ احسان لکه په کبل د پرخې په شان وی. ﴿١٣﴾ بې‌وقوفه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زوئ د پلار د تباهۍ باعث وی، او جګړماره ښځه داسې وی
لکه کوټه چې هر وخت راڅاڅي. ۱۴ انسان ته په وراثت
کښې کورونه او دولت د پلار نیکهٔ نه ملاوېږی، خو هوښیاره
ښځه صرف هغهٔ ته د مالِک خُدائ د طرفه ملاوېږی. ۱۵
ناراستی ښهٔ خوب راولی، او لټ سړے اوږے پاتې کیږی.
۱۶ څوک چې د خُدائ حُکمونه منی نو هغه د خپل ژوند
حفاظت کوی، خو هغه څوک چې د هغهٔ د لارو لا پرواهی
کوی هغه به مړ شی. ۱۷ څوک چې د غریب مدد کوی هغه
مالِک خُدائ سره ښېګړه کوی او څهٔ چې هغه کوی نو هغه
به یې اجر ورکړی. ۱۸ د خپل زوئ تربیت د اول نه په
ماشوموالی کښې کوه هسې نه چې وروستو تهٔ د هغهٔ ژوند
برباد کړې. ۱۹ غصه ناک سړے به ضرور د خپلې غصې
اَنجام ته ورسیږی، کهٔ تاسو چرې هغه یو ځل بچ کړئ نو
تاسو به هغه هر وخت بچ کوئ. ۲۰ نصیحت ته غوږ ونیسه
او هدایت قبول کړه، نو په آخر کښې به تهٔ هم هوښیار شې.
۲۱ د انسان په زړهٔ کښې ډیرې منصوبې وی، خو کیږی هغه
څهٔ چې د مالِک خُدائ رضا وی. ۲۲ وفاداری د انسان
ښائست دے. یو غریب د دروغژن نه بهتر دے. ۲۳ د مالِک
خُدائ یره د ژوندون سرچینه ده، کومه چې انسان ته سکون
ورکوی او د مصیبتونو نه یې بچ ساتی. ۲۴ ناراسته خو خپل
لاس تالی ته رسوی خو تر دې چې هغه بیا واپس خپلې خولې
ته هم نهٔ وړی. ۲۵ کهٔ څوک پېغور کوونکے ووهی نو د دې
نه به ساده ګان سبق زده کړی، کهٔ چرې پوهه سړے ورټلے
شی نو هغه به د دې نه نور عِلم زده کړی. ۲۶ هر هغه څوک
چې په خپل پلار باندې ظلم کوی او خپله مور وشړی نو دے
هغه زوئ دے څوک چې د شرم باعث دے. ۲۷ زما زویه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرکله چې تهٔ نصیحت اورېدل بند کړې، نو تهٔ به د عِلم د
خبرو نه بې‌لارې شې. ۲۸ بدکاره ګواه اِنصاف پورې خندا
کوی، او بدکاران د شرارت نه خوند اخلی. ۲۹ سزا د پېغور
کوونکی دپاره تیاره شوې وی، او وهل د کم عقلو د ملاګانو
دپاره تیار وی.

## ۲۰

۱ مے انسان نه مسخره کوونکے جوړوی او د
شراب څښل د شر او فساد جرړه ده، هر هغه څوک چې په
دې راواوړی نو هغه هوښیار نهٔ دے. ۲ د بادشاه غصه لکه
د زمری د غړمبېدو په شان وی، هر هغه څوک چې دے
غصه کړی نو خپل ژوند په خطره کښې اچوی. ۳ د جنګ
نه لرې کېدل انسان ته عزت ورکوی، خو هر کم عقل زر
جنګ کوی. ۴ ناراسته په صحیح موسم کښې قُلبه نهٔ کوی
نو د لو په وخت کښې هغهٔ سره هیڅ نهٔ وی. ۵ د انسان د
زړهٔ منصوبه د ډوبو اوبو په شان ده، خو هوښیار سړے ترې
نه دا بهر راویاسی. ۶ ډېر خلق د وفادارئ دعوې کوی، خو
وفادار یو هم نهٔ پیدا کېږی. ۷ صادقه انسان نېک ژوند
تېروی او د هغهٔ راروان نسل بختور وی. ۸ کله چې یو
بادشاه د عدالت دپاره په تخت کښېنی، خو هغه په خپله د
ټولو بدو تول کوی. ۹ څوک دا وئیلے شی چې، زما زړهٔ
صفا دے او زهٔ پاک او بې‌ګناه یم؟ ۱۰ د غلط تول او غلط
ناپ دواړو نه مالِک خُدائ نفرت کوی. ۱۱ ماشومان هم په
خپل کردار پېژندلے شی، دا چې ولې د دوئ کردار پاک او
ښهٔ دے او کهٔ نه. ۱۲ غوږونه چې اورېدل او سترګې چې
لیدل کوی مالِک خُدائ دا دواړه جوړ کړی دی. ۱۳ خوب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره مينه مۀ کوه ځکه چې غريب به شې، بېدار اوسه نو تا
سره به د خوراک دپاره هر څۀ ډېر تير وی. ۱۴ اخستونکی
تل دا شکايت کوی چې، ”دا ښۀ نۀ دے، دا ښۀ نۀ دے،“ نو
بيا هغه لاړ شی او وائی چې، ”دا سودا مې ډېره ښۀ واخسته.“
۱۵ سرۀ زر او لعلونه زيات پېدا کيږی، خو هغه شونډې چې
د عقلمندئ خبرې کوی نايابه زيورات دی. ۱۶ هر څوک
چې د پردی کس د قرض ذمه واری اخلی نو ضمانت ترې نه
واخله، ضمانت ترې نه واخله کۀ چرې دۀ دا کار د پردی
کس دپاره کړے وی. ۱۷ د غلا روټئ خوږه وی، خو دا په
خولۀ کښې په باجرئ بدليږی. ۱۸ د نصيحت په رڼا کښې
منصوبې جوړوه، د جنګ نه وړاندې ښۀ مشوره کوه. ۱۹
غېبت راز څرګندوی، نو د هغه کس نه ځان ساته څوک چې
مشروټې کوی. ۲۰ کۀ يو انسان چرې په خپل مور پلار
لعنت کوی، د هغۀ د ژوند چراغ به په توره تيارۀ کښې ختم
شی. ۲۱ کوم ميراث چې انسان ته زر حاصل شی، نو په
آخره کښې به هغه دۀ ته د برکت ذريعه نۀ وی. ۲۲ داسې مۀ
وايه چې، ”د دې بدو انتقام به زۀ په خپله اخلم.“ مالِک خُدائ
ته صبر وکړه هغه به ستا بدله واخلی. ۲۳ مالِک خُدائ د
غلط تول نه نفرت کوی، او د غلطی تلې استعمال بد کار
دے. ۲۴ د انسان قدمونه اخستل مالِک خُدائ په خپله مقرر
کړی دی، نو بيا به څنګه يو کس په خپله لار پوهه شی؟ ۲۵
خپل ځان په بېسوچه نذر منلو سره خُدائ ته مۀ راګېروه، نو
بيا کله چې وروستو په هغې باندې فکر کوی. ۲۶ هوښيار
بادشاه بدکاران په غاښئ ولی، او په هغوئ باندې غويل کوی.
۲۷ د مالِک خُدائ رڼا د انسان د روح لټون کوی، او هغه د
هغوئ په ځان کښې دننه لټون کوی. ۲۸ مينه او وفاداری يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه محفوظ ساتی، د مينې په وجه د هغهٔ تخت به مدام
قائم وی. ۲۹ د ځوانانو عزت او جلال د دوئ طاقت دے،
سپين ويښتهٔ د بوډاوالی شان و شوکت دے. ۳۰ زخمونه او
دردونه بدکاری لرې کوی، وهل انسان دننه نه صفا کوی.

# ۲۱

۱ د بادشاه زړهٔ د مالِک خُدائ په لاس کښې دے،
کوم ځائ چې د دهٔ خوښه وی هلته يې لکه د نِهرونو د اوبو
غوندې بوځی. ۲ هر سړی ته خپلې ټولې لارې په خپل نظر
کښې صحيح ښکاری، خو مالِک خُدائ د زړُونو جاج اخلی.
۳ صداقت او اِنصاف کول مالِک خُدائ دا د قربانۍ نه
زيات خوښوی. ۴ مغروره سترګې او مغرور زړهٔ د بدعملو
چراغ او ګناه ده. ۵ د محنتی انسان منصوبې د آبادۍ
باعث ګرځی، خو په يقين سره جلد بازی انسان د غربت
سره مخ کوی. ۶ کوم مال دولت چې په دروغژنه ژبه
وګټلے شی نو دا د ختمېدونکی دوند او وژونکی دام په شان
دے. ۷ بدکاران به د خپل ظلم زياتی په وجه جارُو شی،
ځکه چې هغوئ د هر هغه کار نه اِنکار کوی کوم چې صحيح
وی. ۸ د ګناه ګار لاره کږه وږه وی، خو د پاکانو لاره نېغه
وی. ۹ دا بهتره ده چې د کوټې دپاسه په يو ګوټ کښې
ځانله ژوند کوی نه چې په کور کښې د ژبه ورې ښځې سره
اوسيږی. ۱۰ بدکاره انسان د بدۍ خواهشمند وی، د هغهٔ
ګاونډيان هم هيڅ قِسمه رحم د هغهٔ نه نهٔ وينی. ۱۱ کله چې
يو مسخره کوونکی ته سزا ورکړې شی، نو ساده هم ترې نه
عقل زده کړی، خو کله چې د هوښيار لارښودنه وشی، نو هغه
ترې نه نور عِلم حاصلوی. ۱۲ صادقه خُدائ هغه هر څهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وينې کوم چې د بدکاره په کور کښې کيږى، او په بدکاره به
هغه تباهى راولى. ۱۳ کۀ يو سړے د غريب ژړا فرياد ته
خپل غوږونه بند کړى، نو د هغۀ خپله ژړا فرياد به څوک نۀ
اورى. ۱۴ په پرده کښې تحفه ورکول غصه نرموى، په پټه
رشوت ورکول انسان د غټ قهر نه ساتى. ۱۵ هرکله چې
اِنصاف وشى، نو په دې صادق خوشحاليږى، خو بدکاره
ترې نه يريږى. ۱۶ څوک چې د حِکمت د لارې نه بې‌لارې
شى، نو هغه به د مړو په ډله کښې شمار شى. ۱۷ څوک چې
د عياشۍ سره مينه کوى نو هغه به غريب شى، څوک چې د
ميو او غوړو زيړو سره مينه کوى هغه به مالداره نۀ شى. ۱۸
د صادقانو په ځائ بدکاران سزاوار شو، او د هغوئ په ځائ
د نافرمانو فديه ورکړے شوه. ۱۹ د جنګ ببره او سرتېزه
ښځې سره د اوسېدو نه په صحرا کښې اوسېدل ښۀ دى. ۲۰
د هوښيارانو په کور کښې ښۀ خوراکونه ډېر تير وى، خو کم
عقل چې څۀ ګټى هغه ختى. ۲۱ څوک چې صداقت او
شفقت پسې ګرځى، هغه به ژوندون، آبادى او عزت پيدا
کړى. ۲۲ يو هوښيار انسان په يو طاقتور ښار حمله کولے
شى، او هغه قوى دېوالونه راغورزولے شى په کومو چې
هغوئ ملا تړى. ۲۳ څوک چې خپله خولۀ او ژبه په قابو
کښې ساتى، خپل ځان د مصيبت نه خلاصوى. ۲۴ مغروره
او ځان ښولے سړے چې مسخره کوونکے يې نوم دے، هغه
هر کار د تکبر سره کوى. ۲۵ د ناراسته خواهش هغه د
مرګ طرف ته بوځى، ځکه چې هغه د کار کولو نه اِنکار
کوى. ۲۶ ټوله ورځ دے د نورو خواهش کوى، خو نېکان تل
په سخاوت کښې لګيا وى. ۲۷ د بدکاره د قربانۍ نه مالِک
خُدائ کرکه کوى، نو د هغې نه به نور څومره کرکه کوى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه چې په بدنيتۍ سره کيږی. ۞۲۸ دروغژن ګواه به تباه
شی، او څوک چې رښتيا وائی هغه به د تل دپاره خبرې کوی.
۞۲۹ يو بدکاره انسان خپل ځان تکړه ښائی خو صادق انسان
په خپلو لارو باندې سوچ کوی. ۞۳۰ هيڅ قسمه حِکمت، عقل
او منصوبه نشته چې د مالِک خُدائ خلاف کاميابه شی. ۞۳۱
آس د جنګ د ورځې دپاره تيارولے شی، خو کاميابی د
مالِک خُدائ په لاس کښې ده.

۲۲ ۞۱ نيک نامی د ډېر مال دولت نه غوره ده، عزت د
سرو او سپينو زرو نه بهتر دے. ۞۲ مالداره او غريب دواړه
يو شان دی، مالِک خُدائ د دواړو خالق دے. ۞۳ هوښيار
سړے چې خطره ووينی نو خپل ځان ترېنه ساتی، خو ساده
سړے پرې وردانګی او بيا مصيبت کښې راګير شی. ۞۴
عاجزی او د مالِک خُدائ نه يرېدل، انسان ته مال دولت،
عزت او ژوند ورکوی. ۞۵ د بدکارانو په لار کښې ازغی او
دامونه وی، خو په چا چې خپل ځان ګران وی نو هغه د دوئ
نه ځان بچ ساتی. ۞۶ ماشوم په صحيح لار روان کړه، دے
چې لوئ هم شی د هغې نه به وانۀوړی. ۞۷ مالداره په
غريبانانو باندې حکومت کوی، او قرض اخستونکے د
قرض ورکونکی غلام وی. ۞۸ کۀ څوک نا اِنصافی کَری نو
مصيبت به وريبی، او د هغۀ د کبر کاسه به نسکوره شی. ۞۹
بختور دی هغوئ څوک چې سخاوت کوی، ځکه چې هغوئ
غريبانان مړوی. ۞۱۰ پېغور کوونکے کس وشړه، دې سره به
جنګ جګړې ختمې شی، بحث مباحثه او سپکاوے هم
ورسره ختميږی. ۞۱۱ څوک چې په زړۀ صفا وی او خوږې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې کوی، نو بادشاه به هم د هغهٔ دوست شی. ۱۲ د
مالِک خُدائ نظر په عالمانو باندې وی، خو هغه د بې‌وفا
خلقو منصوبې ورانوی. ۱۳ ناراسته وائی، ”بهر زمرے دے.
کهٔ چرې بهر ووځم نو هغه به مې په لار کښې ووژنی.“ ۱۴ د
زناکارې ښځې خولهٔ د ژورې کندې په شان ده، چا ته چې
مالِک خُدائ په قهر شوے وی هغه به په کښې ورغورزیږی.
۱۵ د ماشومانو زړهٔ د کم عقلتوب نه ډک وی، خو د وهلو
چوکه د هغوئ نه دا عادت وکاږی. ۱۶ څوک چې په
غریبانانو باندې ظلم کوی د دې دپاره چې مالداره شی او
هغه څوک چې امیرانو ته تحفې ورکوی نو دا دواړه به غریب
شی.

## د عقلمندۍ دېرش مثالونه

۱۷ د هوښیارانو خبرو ته غوږ کېږده او هغې ته پام وکړه او
زما تعلیم د زړهٔ نه قبول کړه. ۱۸ نو دا به تا خوشحاله کړی
کهٔ تهٔ دا په خپل زړهٔ کښې یاد ساتې او دا په خپلو شونډو هر
وخت یادوې. ۱۹ زهٔ نن تا ته تعلیم درکوم دا چې ستا ایمان
په مالِک خُدائ باندې پیدا شی. ۲۰ ما ستا دپاره دېرش
خبرې لیکلې دی په کومو کښې چې عِلم، او نصیحت دے.
۲۱ او زهٔ به تا ته رښتیا او د اعتماد وړ خبرې دروښایم،
ترڅو چې قابل اعتماد جواب ورکولے شې هغه چا ته چا
چې تهٔ رالیږلے یې.

## اول نصیحت

۲۲ د غریبانانو د غریبۍ نه غلطه فائده مهٔ اخله، او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدالت کښې د حاجتمندو حق مۀ خوره. ۲۳ ځکه چې مالِک خُدائ به په خپل لاس کښې د دوئ مقدمه واخلی او هغوئ به لوټ کړی، چا چې دوئ لوټ کړی وی.

## دویم نصیحت

۲۴ د غصه ناکو سره دوستانه مۀ کوه، او د قهرژنو سره ناسته مۀ کوه. ۲۵ هسې نه چې تۀ د هغوئ عادتونه زده کړې او خپل ځان په مصیبت کښې راګیر کړې.

## دریم نصیحت

۲۶ د چا په ځائ د ضمانت لاس مۀ ورکوه او مۀ د قرض ذمه واری اخله. ۲۷ کۀ تۀ هغوئ له دا قرض ورنۀ کړے شې هغوئ به راشی او تۀ چې په کوم کټ اودۀ کېږې نو هغه به درنه یوسی.

## څلورم نصیحت

۲۸ په زمکه کښې هغه د حد بندئ وړومبے کاڼے مۀ بېځایه کوه کوم چې ستا پلار نیکۀ ایښے وی.

## پينځم نصیحت

۲۹ تۀ داسې یو کس وینې، څوک چې په خپل کار کښې ماهر وی؟ هغه به د عامو خلقو خِدمت نۀ کوی، خو د بادشاهانو خِدمت به کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## شپږم نصيحت

۲۳ ۱ کله چې ته يو حاکِم سره روټۍ خوړلو ته کښېنې،
نو دا په ذهن کښې راوله چې ستا وړاندې څۀ دى. ۲ په
خپله مرئ چاړۀ کېږده کۀ ته زيات خوړونکے يې. ۳ د
هغۀ د مزېدار خوراک هېڅ خواهش مۀ کوه، ځکه چې دا
دوکه ورکوونکے خوراک دے.

## اوؤم نصيحت

۴ خپل ځان په مالداره کولو مۀ ستړے کوه. دومره
هوښيار شه چې د داسې کولو نه ځان ساتې. ۵ ستا دولت
به د سترګو په رپ کښې فنا شى، او خپلې وزرې به پرانيزى
او د باز په شان به آسمان ته والوځى.

## اتم نصيحت

۶ د يو شوم سړى روټۍ مۀ خوره او د هغۀ د مزيدارو
خوراکونو ارمان مۀ کوه. ۷ هغه داسې سړے دے چې
هميشه د خرچ سوچ کوى، هغه تاسو ته وائى چې، ”راشئ ما
سره وخورئ وڅښئ.“ خو هغه د زړۀ نه دا خبره نۀ کوى.
۸ ځکه چې تاسو څۀ خوړلى وى هغه به په پوزه باقۍ کړئ
او ستاسو ټولې ښُکلې خبرې به بېفائدې شى.

## نهم نصيحت

۹ يو کم عقل ته خبرې مۀ کوه، هغه به ستا د حِکمت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې سپکې ګڼي.

## لسم نصيحت

١٠ په زمکه کښې هغه د حد بندۍ ورومبے کاڼے مۀ بېځايه کوه او مۀ د يتيمانو په زمکه باندې قبضه کوه. ١١ ځکه چې د هغوئ بچ کوونکے زورَور دے او هغه به ستاسو خِلاف د هغوئ د مقدمې طرفدارے وکړی.

## يوولسم نصيحت

١٢ خپل زړۀ تربيت ته حواله کړه او خپل غوږونه د حِکمت خبرو ته نيسه.

## دولسم نصيحت

١٣ د خپل اولاد تربيت مۀ پرېږده. کۀ تۀ هغوئ ته په چوکه سزا ورکړې نو هغوئ به د دې نه مړۀ نۀ شی. ١۴ هغۀ ته په چوکه سزا ورکړېٔ او هغه به د عالمِ ارواح نه بچ کړېٔ.

## ديارلسم نصيحت

١۵ زما زويه، کۀ تۀ عقلمند يې، نو زما زړۀ به خوشحاله وی. ١۶ دننه روح به په ما کښې په ټوپونو شی کله چې تۀ رښتيا خبرې کوې.

## څوارلسم نصيحت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ خپل زړهٔ مهٔ پرېږده چې د ګناهګارو سره حسد وکړی،
خو د مالِک خُدائ نه هر وخت په يره کښې اوسه. ۱۸ په
يقين سره ستا دپاره په راتلونکی وخت کښې اُميد شته دے او
ستا اُميد به نهٔ ختمېږی.

## پينځلسم نصيحت

۱۹ زما زويه، ما ته غوږ ونيسه، هوښيار اوسه، او خپل زړهٔ
په صحيح لار باندې قائم وساته. ۲۰ د شرابيانو سره ناسته
پاسته مهٔ کوه، او د خېټورو سره مهٔ ګرځېږه. ۲۱ ځکه چې
شرابيان او خيټور به غريبانان شی. او ډېر خوب به هغوئ ته
شلېدلې جامې ورواغوندی.

## شپاړسم نصيحت

۲۲ خپل پلار ته غوږ نيسه، چا چې تا له ژوند درکړے دے،
او د خپلې مور بې‌عزتی مهٔ کوه کله چې هغه بوډۍ شی. ۲۳
حقيقت حاصل کړه او دا مهٔ خرڅوه، او حِکمت، تربيت او
پوهه حاصله کړه. ۲۴ د صادق سړی پلار ډېر خوشحاله
وی، هغه څوک چې هوښيار زوئ لری په هغهٔ باندې فخر
کوی. ۲۵ ستا مور او پلار دې خوشحالی وکړی، او هغه دې
خوشحالی وکړی چا چې تهٔ زيږولے يې.

## اوولسم نصيحت

۲۶ زما زويه، خپل زړهٔ ما ته راکړه او ما ته وګوره او په
خوشحالۍ سره زما په طريقو باندې عمل وکړه. ۲۷ ځکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کنجره د ژورې کندې په شان وی او زناکاره د تنګ
کوهی په شان وی. ۲۸ هغوئ د ډاکوانو په شان په انتظار
کښې ناستې وی او بې‌وفا سړی زیاتوی.

## اتلسم نصيحت

۲۹ څوک دی چې ویر کوی؟ څوک دی چې غمژن دی؟
څوک دی چې جګړه کوی؟ څوک دی چې شکایت کوی؟
څوک دی چې هسې زخمونه لری؟ څوک دی چې سرې
سترګې لری؟ ۳۰ دا هغوئ دی څوک چې په مےخانو کښې
وخت تېروی، او د رنګارنګ میو پیالۍ څښی. ۳۱ میو ته مهٔ
ګوره کله چې دا سرهٔ وی او کله چې په پیاله کښې شُغلې
وهی او په آسانه سره تېرېږی. ۳۲ په آخر کښې دا لکه د مار
چیچل کوی او لکه د منګور په شان زهریله وی. ۳۳ ستا
سترګې به عجیبه او رنګارنګ څیزونه ګوری، او ستا ذهن به
د ګډوډو څیزونو تصور کوی. ۳۴ تهٔ به په خیال کښې د هغه
چا په شان یې څوک چې د سمندر دپاسه اودهٔ وی، او د چپو
دپاسه پروت ټالۍ وهی. ۳۵ نو تهٔ خپل ځان ته وائې، ”هغوئ
زهٔ ووهلم، خو زهٔ خوږ نهٔ شوم، هغوئ زهٔ وټکولم، خو ما ته
پته ونهٔ لګېدله. کله چې زهٔ راویښ شم نو زهٔ به د څښلو دپاره
نور شراب هم پیدا کړم.“

## نولسم نصيحت

۲۴ ۱ د بدکارانو سره حسد مهٔ کوه او د هغوئ د
دوستانې آرزو مهٔ کوه ۲ ځکه چې هغوئ په زړهٔ کښې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شر او فساد منصوبې جوړوی، او د هغوئ خبرې تل مصیبت جوړوی.

## شلم نصیحت

۳ یو کور په حِکمت سره جوړیږی، او د پوهې په وجه هغه قائم پاتې کیږی. ۴ د عِلم په واسطې سره د هغهٔ کوټې د نایابه او قیمتی خزانو سره ښائسته کولے شی.

## یویشتم نصیحت

۵ یو هوښیار انسان لوئ طاقت لری، او د عالم قوت ورځ په ورځ نور هم زیاتیږی. ۶ د جنګ کولو دپاره د ښهٔ هدایت ضرورت وی، او د ګڼو مشوره ورکوونکو سره کامیابی یقینی وی.

## دوویشتم نصیحت

۷ کم عقل هوښیارتیا نهٔ شی حاصلولے، ځکه په جرګه کښې د هغهٔ خولهٔ بنده وی.

## درویشتم نصیحت

۸ خوک چې بدې منصوبې جوړوی، نو هغه به په دوکه مار مشهور شی. ۹ د کم عقلو منصوبې د ګناه نه ډکې وی، او خلق د مسخره کوونکی نه نفرت کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## څلیریشتم نصیحت

١٠ کهٔ تهٔ په سخت وخت همت بائیلې، نو تهٔ بیا ډېر
کمزورے انسان يې.

## پینځویشتم نصیحت

١١ د هغه کس په بچ کولو کښې سستی مهٔ کوه څوک چې
مرګ ته روان کړے شوے وی، او هغه حلالولو ته مهٔ
پرېږده. ١٢ کهٔ تاسو چرې وایئ، "مونږ ته خو د دې په حقله
څهٔ عِلم نشته دے." نو هغه څوک چې د زړونو په سوچونو
خبر دے نو دا به معلوم نهٔ کړی څهٔ؟ هغه څوک چې ستا د
ژوندون خیال ساتی په دې نهٔ پوهېږی څهٔ؟ هغه به هر هغه چا
ته د خپل عمل په مطابق بدله ورنهٔ کړی څهٔ؟

## شپږویشتم نصیحت

١٣ زما زویه، شهد خوره، ځکه چې دا ښهٔ خیز دے، د
ګبین د شهدو خوند خوږ وی. ١٤ نو په دې یقین وکړه چې
حِکمت هم دغه شان ستا د ځان دپاره خوږ دے، کهٔ چرې تهٔ
یې بیامومې نو دا ستا د راتلونکی ژوند دپاره اُمید دے، او دا
اُمید به هیڅکله ستا نه اخوا نهٔ شی.

## اوویشتم نصیحت

١٥ د بدکارانو غوندې مهٔ جوړېږه څوک چې د صادقانو د
کور خلاف په انتظار کښې ناست وی، او د هغوئ په کورونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حمله مهٔ کوه. ۱۶ کهٔ څهٔ هم چې صادق انسان اووهٔ ځله
راپرېوځی هغه دوباره راپاڅی، خو د بدکاره دپاره یو افت
بس دے.

## اتهٔویشتم نصیحت

۱۷ هرکله چې ستا دشمن راپرېوځی نو په هغهٔ باندې
خوشحالی مهٔ کوه، او کله چې هغه تیندک وخوری نو په هغهٔ
باندې خپل زړهٔ مهٔ خوشحالوه. ۱۸ نو مالِک خُدائ به ستا
دا خوشحالی وګوری او هغه به ستا نه نارضا شی او د هغهٔ
نه به خپل غضب اخوا کړی.

## یو کم دېرشم نصیحت

۱۹ د بدکارانو په وجه مهٔ پرېشانه کېږه، او مهٔ د هغوئ سره
حسد کوه، ۲۰ ځکه چې د بدعمله سره د آئنده اُمید نشته،
او د هغوئ ډیوه په مړه کېدو ده.

## دېرشم نصیحت

۲۱ زما زویه، د مالِک خُدائ او د بادشاه نه یرېږه، او د
باغیانو سره ملګرتیا مهٔ کوه، ۲۲ ځکه چې دا دواړه به
ناڅاپه تباهی ورنازله کړی نو څوک د دې اندازه لګولے شی
چې څهٔ قسمه تباهی به په دوئ راولېږی؟

## د حِکمت نورې خبرې

۲۳ هوښیاران هم داسې وائی، د عدالت کولو په وخت کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د چا طرفداری په کار نهٔ ده. ۲۴ هر هغه څوک چې يو ګناه
ګار ته ووائی چې، "ته بې‌ګناه يې،" ټول قوم به په دهٔ باندې
لعنت ووائی او قومونه به يې رسوا کړی. ۲۵ خو هغه څوک
چې مجرم رټی، نو ډېر برکتونه به په هغوئ نازل شی. ۲۶
څوک چې هر وخت رښتينے جواب درکوی هغه اصلی
دوست دے. ۲۷ خپل بهرنی کارونه اول ختم کړه او خپله د
کروندې زمکه تياره کړه، د دې نه وروستو خپل کور جوړوه.
۲۸ د ثبوت نه بغير دې د خپل ګاونډی خِلاف ګواهی مهٔ
ورکوه، او د هغهٔ په حقله د دروغو خبرې مهٔ کوه. ۲۹ داسې
مهٔ وايه، "هغهٔ چې ما سره څهٔ کړی دی نو زهٔ به هم هغه شان
ورسره وکړم، او زهٔ به ترې نه خپل بدل واخلم." ۳۰ زهٔ د يو
ناراسته سړی په پټی تير شوم او د کم عقل د انګورو باغ مې
وکتلو، ۳۱ په هر ځائ کښې ازغی راختلی وُو، او زمکه ټوله
په ډيله باندې ډکه وه، او د کاڼو ديوالونه يې راغورزېدلی وُو.
۳۲ ما چې څهٔ وليدل نو په خپل زړهٔ کښې مې ورباندې
سوچ وکړو، او چې څهٔ مې وليدل د هغې نه مې سبق زده
کړو. ۳۳ کهٔ يو سړے وائی چې، "لږ به اودهٔ شم، لږې به
سترګې پټې کړم، لږ به خپل لاسونه راغونډ کړم چې دمه
شم،" ۳۴ خو بيا غريبی به لکه د يو ډاکو په شان په هغهٔ
باندې ورټوپ کړی، او نيستی به لکه د وسله بند انسان په
شان هغه راګير کړی.

## د حضرت سليمان نور متلونه

۲۵ ۱ دا د سليمان نور متلونه دی، کوم چې د حزقياه
کاتبانو د يهوداه بادشاه راجمع کړی دی. ۲ دا د خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک شان دے چې یوه معامله په راز کښې ساتی، خو د یوې
مسئلې ښکاره کول د بادشاه عزت څرګندوی. ۳ خومره
چې آسمانونه اوچت او زمکه ژوره ده، هم دغه شان د
بادشاهانو زړونه نامعلوم دی. ۴ د سپینو زرو نه ملاوټ
لرې کړه ترڅو زرګر ترې نه یو ښائسته لوښے جوړ کړی.
۵ نو دغه شان د بادشاه د حضور نه بدکاران لرې کړه، نو
د هغۀ حکومت به د صداقت په وجه قائم وی. ۶ د بادشاه
په حضور کښې د خپل ځان لوئی مۀ کوه، او مۀ د لویو خلقو
په ځائ کښې وړاندې کښېنه. ۷ دا به ښۀ وی چې هغه تا
راوغواړی چې، "دلته راشه،" او نۀ دا چې هغه تا د مشرانو په
وړاندې بےعزته کړی او ښکته دې کښېنوی. څۀ چې تا په
خپلو سترګو لیدلی وی ۸ نو هغه په عدالت کښې په تېزئ
سره مۀ وړاندې کوه، نو تۀ به په آخر کښې څۀ کوې کۀ چرې
ستا ګاونډی تا ملامته کړی او بیا دې وشرموی؟ ۹ کۀ تۀ
خپل ګاونډی سره په یوه مقدمه کښې بحث کوې، نو په هغه
وخت کښې د بل انسان راز ورته مۀ څرګندوه. ۱۰ او کۀ
چرې هغه دا واوری او تا وشرموی، نو بیا به تۀ خپله دا
بدنامی هیڅکله ختمه نۀ کړې. ۱۱ په ځائ خبره داسې وی
لکه چې د سپینو زرو په لوښی کښې د سرو زرو مڼه وی. ۱۲
د یو هوښیار سړی تنبیه د هغه غوږ دپاره څوک اوریدلے شی
لکه د سرو زرو والۍ او یا د سوچه سرو زرو کالی په شان
ده. ۱۳ یو باوری پېغام وړونکے لکه د لو په موسم کښې د
واورې د یخوالی په شان دے د هغه چا دپاره څوک چې هغه
استوی، او هغه د خپل مالِک زړۀ یخوی. ۱۴ لکه د هغه
وریځ او هوا په شان چې باران نۀ ورَوی، هغه څوک دے چې
د تُحفو ورکولو وعده کوی او بیا یې نۀ ورکوی. ۱۵ د صبر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په وجه مشر هم قائلیږی، او یوه نرمه خبره هډوکی هم
ماتوی. ۱۶ کهٔ چرې تا ته شهد مِلاو شی نو ضرورت نه
زیات مهٔ خوره، په زیات خوړلو به دا قے کړې. ۱۷ د خپلو
ګاونډیانو کور ته کم ورځه، کهٔ چرې تهٔ ډېر ورځې نو کېدے
شی چې ستا نه نفرت شروع کړی. ۱۸ څوک چې د خپل
ګاونډی خلاف د دروغو ګواهی ورکوی هغوئ لکه د لَوړ، یا
تُورې یا د تېرهٔ غشی غوندې خطرناک وی. ۱۹ لکه په
خراب غاښ خوړل یا په ګوډه پښه تلل کول داسې دی لکه په
سخت وخت کښې چې په ناباوره کس توکل کوی. ۲۰ یو
خفه کس ته چې څوک د خوشحالۍ سندرې وائی، نو هغه به
داسې وی لکه چې د یو کس نه په یخ موسم کښې څادر اخوا
کړی، او یا سرکه د هغهٔ په زخم واړوی. ۲۱ کهٔ ستا دشمنان
اوږی وی، نو هغوئ له خوراک ورکړه، کهٔ چرې هغوئ تږی
وی، نو هغوئ له اوبهٔ ورکړه. ۲۲ نو په داسې کولو سره تهٔ د
هغهٔ په سر باندې به بل سکارهٔ واړوې، او مالِک خُدائ به تا
له اجر درکړی. ۲۳ لکه څنګه چې د شمال هوا باران راولی،
نو دغه شان پښی شا خبرې کول د خلقو مخ د غصې نه تک
سور کړی. ۲۴ دا بهتره ده چې د کوټې دپاسه په یو ګوټ
کښې ځانله ژوند کوې نه چې په کور کښې د ژبه ورې ښځې
سره اوسېږې. ۲۵ لکه یخې اوبهٔ چې د ستړی زړهٔ دپاره ښې
وی نو دغه شان یو ښهٔ زیرے د لرې مُلک نه دے. ۲۶ کهٔ
یو صادق انسان د بدکاره په سازش کښې راشی نو هغه بیا د
ګنده چینې او یا خراب کوهی په شان وی. ۲۷ دا ښهٔ نهٔ دے
چې زیات شهد وخوړلے شې، او یا د ځان دپاره د حد نه
زیات عزت وغواړې. ۲۸ څوک چې خپل نفس نهٔ شی قابو
کولے هغه د هغه ښار په شان بېوسه دے چې دېوالونه یې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غورزېدلی وی.

۲۶ ۱ لکه ځنګه چې په اوړی کښې واوره یا د لو په
موسم کښې باران نامناسب وی، دغه شان د کم عقل انسان
عزت کول هم دومره نامناسبه وی. ۲ لکه ځنګه چې
چڼچڼه اخوا دیخوا الوځی او یا چې طوطاګرکے چکرې وهی
او په ځائې نۀ کښېنی، دغه شان نامناسبه ښیرا کول د چا په
سر نۀ کښېنی. ۳ لکه ځنګه چې د آس دپاره چابک، د خر
دپاره واګې وی نو هم دغه شان د کم عقل د ملا دپاره چوکه
وی. ۴ کم عقل ته د هغۀ د کم عقلتوب په مطابق جواب مۀ
ورکوه، ګنې تۀ به هم د هغۀ په شان شې. ۵ د کم عقل
سوال ته کم عقل جواب ورکوه ځکه چې هغه خپل ځان
هوښیار ونۀ ګڼی. ۶ د یو کم عقل په لاس پېغام استول
داسې دی لکه انسان چې په خپله ځان نه پښې پرې کړی او یا
زهر وڅښی. ۷ د کم عقل په خولې متل داسې وی لکه
ځنګه چې د یو ګوډ پښه بېکاره وی. ۸ کم عقل ته عزت
ورکول داسې وی لکه څوک چې لیندې پورې کاڼے وتړی او
ګزار پرې نۀ شی کولے. ۹ لکه ځنګه چې د ازغو بوټی د
یو شرابی په لاس کښې وی دغه شان یو متل د کم عقل په
خولۀ کښې وی. ۱۰ هغه څوک چې کم عقل او یا لوفر ته
کار ورکړی هغه لکه د هغه غشی ویشتونکی په شان وی چې
هر څوک پرې ولی. ۱۱ لکه ځنګه چې یو سپے خپلې
اولټیانې دوباره څټی دغه شان کم عقل خپل کم عقلتوب بار
بار کوی. ۱۲ تاسو داسې سړے لیدلے دے چې هغۀ ته
خپل ځان هوښیار ښکاری؟ خو د دۀ نه زیات اُمید د یو کم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عقل دپاره وی. ۱۳ ناراسته وائی چې، ”په لار کښې زمرے
دے، خطرناک زمرے په کوڅو کښې ګرځی.“ ۱۴ لکه
څنګه چې دروازه په خپلو قبضو تاویږی، دغه شان ناراسته
په خپل کټ کښې اوړی راوړی. ۱۵ ناراسته خپل لاس تالی
ته وراوږدوی، خو هغه دومره ناراسته وی چې واپس یې خپلې
خولې ته نهٔ راوړی. ۱۶ ناراسته خپل ځان د اووهٔ هوښیار
سړو نه هم زیات هوښیار ګڼی څوک چې په حِکمت سره
جواب ورکوی. ۱۷ لکه څوک چې یو کوڅه ډب سپے د
غوږونو نه راونیسی د هغه چا په شان دے چې د بل چا په
بحث کښې ځان شامل کړی. ۱۸-۱۹ لکه څنګه چې یو
لیونے د اور او وژونکی غشی ورَوی، دا د هغه چا په شان
دے چې څوک خپل ګاونډی له دوکه ورکړی او بیا ووائی
چې، ”ما خو صرف ټوقې کولې.“ ۲۰ د پوکی نه بغېر اور مړ
کیږی، او د غیبت نه بغېر جنګ ختمیږی. ۲۱ لکه څنګه چې
سکارهٔ بلیږی او لکه څنګه چې لرګی لمبې کوی، نو دغه شان
د جنګ د تودولو دپاره جنګ مار سړے وی. ۲۲ د غیبت
کوونکی خبرې لکه د خوندور خوراک په شان وی، دا بلکل د
سړی دننه بدن ته کوزیږی. ۲۳ نرمې خبرې شریر زړهٔ پټوی
لکه څنګه چې په خاورین لوښی باندې رنګ روغن وشی. ۲۴
کینه ناک انسان په خوږو خبرو کولو خپل نفرت پټوی، خو
په زړهٔ کښې یې کینه ساتلې وی. ۲۵ کهٔ څهٔ هم چې د هغهٔ
خبرې خوږې وی خو په هغوئ یقین مهٔ کوه، ځکه چې د هغهٔ
زړهٔ د رنګارنګ حرام کاریو نه ډک وی. ۲۶ کهٔ د هغهٔ بدنیتی
د هغهٔ په چل وَل کښې پټه وی، خو بیا هم د هغهٔ شرارت هر
چا ته ښکاره شی. ۲۷ کهٔ یو انسان بل چا ته کنده کنی نو
هغه په خپله په کښې ورغورزیږی، او کهٔ یو انسان په بل چا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاڼے رغړوی هغه کاڼے به په خپله په دهٔ باندې راورغړېږی.
۲۸ د بل چا په حقله دروغ وئیل د هغهٔ نه نفرت کول دی، او
د خوشامندئ خبرې تباهی راولی.

# ۲۷

۱ د سبا په حقله لافې مهٔ کوئ، ځکه چې چا ته هم
پته نشته چې سبا به څهٔ کېږی. ۲ دا به ښهٔ وی چې نور
خلق ستا صِفت وکړی، نه چې تهٔ په خپله د خپل ځان صِفت
کوې، او دا به ښهٔ وی چې نابلده خلق ستا ښهٔ ووائی نه چې
تهٔ په خپله. ۳ کاڼے دروند وی شګې درنې وی، خو د یو
کم عقل تنګول د دې دواړو نه زیات درانهٔ وی. ۴ قهر خو
ظالم دے او غضب انسان چخڼی کوی خو د حسد په
وړاندې څوک ټینګېدے شی؟ ۵ څرګنده رټنه د پټې مینې نه
ښهٔ ده. ۶ د دوست رټنه د هغهٔ د مینې اظهار دے، خو د
دشمن ښکلول سراسر دوکه ده. ۷ څوک چې موړ وی هغه
شهد هم د پښو لاندې کوی، خو د اوږی دپاره تریخ خوراک
هم خوږ وی. ۸ لکه څنګه چې یوه مرغۍ د خپلې جالې نه
ورکه شوې وی د هغه چا په شان وی لکه څوک د خپل کور
نه په صحرا شوی وی. ۹ لکه څنګه چې عطر او خوشبو د
انسان زړهٔ خوشحالوی، هم دغه شان ښې مشورې دوستان
خوشحالوی. ۱۰ خپل دوستان او د خپل پلار دوستان مهٔ
هېروه، د خپل ورور کور ته مهٔ ځه کله چې په تا څهٔ مصیبت
راشی. ستا نزدې ګاونډی د لرې ورور نه ښهٔ دے. ۱۱ زما
زویه، هوښیار اوسه او زما زړهٔ خوشحاله کړه، نو بیا به زهٔ
هر هغه چا ته جواب ورکولے شم څوک چې ما ته سپک
ګوری. ۱۲ هوښیاران خطره د اول نه وینی او د هغې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان بچ کوی، خو کم عقل پرې ورخلاص وی او بيا په
تکليف کښې راګير شی. ۱۳ هر څوک چې د پردی کس د
قرض ذمه واری اخلی نو ضمانت ترې نه واخله، ضمانت
ترې نه واخله کۀ چرې دۀ دا کار د پردی کس دپاره کړے
وی. ۱۴ کۀ چرې څوک سحر د وخته په اوچت آواز سره په
خپل ګاونډی سلام واچوی، دا به هغه لکه د کنځلو په شان
وګڼلی. ۱۵ يوه جګړماره ښځه داسې وی لکه چې په باران
کښې د کوټې چت راڅاڅی. ۱۶ د هغې بندول داسې مشکل
وی لکه د هوا بندول او يا تېل په موټی کښې نيول. ۱۷ لکه
څنګه چې اوسپنه اوسپنه تيره کوی، نو دغه شان يو انسان
بل انسان تېرۀ کوی. ۱۸ کۀ څوک د اينځر د ونې خيال
ساتی نو د هغې ميوه به هم وخوری، او هر هغه څوک چې د
خپل نيک خيال ساتی نو هغه به عزتمند شی. ۱۹ لکه څنګه
چې په اوبو کښې مخ ښکاری، نو هم دغه شان د يو انسان
زړۀ يو انسان څرګندوی. ۲۰ لکه څنګه چې په مرګ او
تباهی دُنيا نۀ مړيږی، هم دغه شان د انسان سترګې کله هم نۀ
مړيږی. ۲۱ سپين او سرۀ زر په اور آزمائيلے شی، او يو
انسان د هغۀ د صِفت کولو نه وروستو آزمائيلے شی. ۲۲
کۀ تۀ کم عقل په لنګرئ کښې د تخم په شان وټکوې، خو کم
عقلتوب به د هغۀ نه لاړ نۀ شی. ۲۳ د خپلو رمو په حال ځان
پوهوه، او خپلو رمو ته زياته توجو ورکوه، ۲۴ ځکه چې مال
دولت هم د تل دپاره نۀ پاتې کيږی او نۀ تاج او تخت د ټولو
نسلونو دپاره پاتې کيږی. ۲۵ کله چې ګياه ختمه شی او نوې
ګياه راشنه شی او ګياه د غرونو نه راجمع کيږی، ۲۶ نو بيا
به ګډورې تا ته د کپړو دپاره وړۍ درکړی، او چېلئ به درته د
پټو د اخستو قيمت درکړی. ۲۷ نو بيا به تا سره د چېلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دومره زيات پئ وی چې په هغې به خپل خاندان او وينځې
ساتلے شی.

# ۲۸

۱ بدکاران هيڅ بې‌هيڅه تښتی کۀ څۀ هم ځوک
ورپسې نۀ وی، خو صادقان لکه د زمرو په شان ډاډه وی.
۲ هرکله چې يو مُلک باغی وی، نو د هغه مُلک ډېر
حاکمان وی، خو پوهه او هوښيار انسان د مُلک نظام برقرار
ساتی. ۳ کوم مشر چې په غريبانانو باندې ظلم کوی د هغه
تېز باران په شان دے چې ولاړ ټول فصل تباه کوی. ۴
کوم خلق چې شريعت ماتوی نو په دې کار سره د بدکارانو
صِفت کوی، خو هغه ځوک چې د شريعت تابعداری کوی نو
هغوئ د شريرانو مخالفت کوی. ۵ بدکاره انسانان په
اِنصاف نۀ پوهيږی، خو ځوک چې د مالِک خُدائ لټون کوی
نو هغوئ پرې مکمل پوهيږی. ۶ غريب صادق انسان د
دوکه مار مالدار نه ښۀ وی. ۷ ځوک چې په شريعت عمل
کوی نو هغه يو هوښيار زوئ دے، خو ځوک چې د بد
اخلاقو دوستی کوی د خپل پلار د شرم باعث ګرځی. ۸
ځوک چې خپل ځان په زيات سود سره مالداره کړی خو
آخر به د هغۀ مال دولت د هغه چا شی ځوک چې په
غريبانانو مهربانه وی. ۹ خُدائ پاک د هغه چا د دُعا نه
نفرت کوی ځوک چې د شريعت نه مخ اړوی. ۱۰ ځوک
چې يو نېک انسان بدکارئ ته رهنمائی کوی نو په خپل لټ
کښې به راګير شی، خو ايمانداره انسان ته به ښۀ ميراث مِلاو
شی. ۱۱ يو مالداره خپل ځان هوښيار ګڼی، خو يو غريب
عقلمند د هغۀ په اصلی کردار پوهيږی. ۱۲ کله چې صادقان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کامیاب شی، نو ټول قوم غټه خوشحالی کوی، خو کله چې د
بدکارانو حکومت راشی نو هر څوک خپل ځان پټوی. ﴿۱۳﴾
هر هغه څوک چې په خپله ګناه باندې پرده اچوی نو دے به
کامیاب نهٔ شی، خو هر هغه څوک چې د ګناه اعتراف وکړی
او هغه بس کړی نو په هغهٔ به رحم وشی. ﴿۱۴﴾ بختور دے هغه
څوک چې هر وخت د مالِک خُدائ نه یریږی، خو څوک چې
خپل زړهٔ سخت کړی نو په مصیبت کښې به راګېر شی. ﴿۱۵﴾
لکه د غړمبېدونکی زمری او یا د اوږی مېلو په شان هغه
بدکاره انسان دے څوک چې په بېوسه خلقو باندې حکومت
کوی. ﴿۱۶﴾ ناپوهه بادشاه به په خپلو خلقو ظلم کوی، خو
څوک چې د حرام مال دولت نه نفرت کوی نو هغه به د ډېر
وخت دپاره ژوندے وی. ﴿۱۷﴾ کهٔ یو انسان خپل لاسونه د بل
چا په وینو سرهٔ کړی وی نو هغه به تر مرګه پورې مفرور
وی، نو هیڅ څوک دې د دهٔ مدد نهٔ کوی. ﴿۱۸﴾ د چا کردار
چې بېداغه وی نو هغه به بچ شی، خو د چا لارې چې غلطې
وی نو ناګهانه به تباه شی. ﴿۱۹﴾ څوک چې د خپلې زمکې
زمیداری کوی هغوئ سره به ډېر خوراک وی، د چا په سوچ
کښې چې هوائی خیالونه ګرځی، نو سخته غریبی به پرې
راشی. ﴿۲۰﴾ یو ایماندار کس ته به ډېر زیات برکت ورکړے
شی، خو کهٔ څوک زر مالداره کېدل غواړی هغهٔ ته به سزا
مِلاو شی. ﴿۲۱﴾ د چا طرفداری کول ښهٔ کار نهٔ دے ځکه چې
ځینې خلق به د یوې نوړی روټۍ دپاره غلط کار وکړی. ﴿۲۲﴾
کنجوس انسان د دې لیواله وی چې مالداره شی او د دې نه
ناخبره وی چې غربت د دهٔ انتظار کوی. ﴿۲۳﴾ څوک چې د
اصلاح دپاره تنبیه کول کوی په آخر کښې به د هغه چا نه
ورته زیات عزت مِلاو شی څوک چې په ژبه څټل کوی. ﴿۲۴﴾

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چې د خپل پلار او مور نه غلا کوی او دے وائی چې،
”دا غلطی نۀ ده،“ نو دے د یو قاتل نه کم نۀ دے. ۲۵ لالچی
انسان جنګ جګړې جوړوی، خو څوک چې په مالِک خُدائ
باندې توکل کوی هغه به آباد شی. ۲۶ څوک چې په خپل
ځان یقین کوی نو هغه کم عقل دے، خو څوک چې په
هوښیارتیا سره قدم اوچتوی نو دے به بچ پاتې شی. ۲۷
څوک چې غریبانانو له ورکړه کوی نو د هیڅ شی محتاجه به
نۀ شی، خو څوک چې په دوئ باندې سترګې پټوی نو دوئ به
په لعنت کښې ګرفتار شی. ۲۸ هرکله چې حکومت د
بدکارانو لاس ته ورشی، نو خلق خپل ځان پټوی، کله چې
بدکاران هلاک شی نو صادقان بیا آباد شی.

## ۲۹

۱ څوک چې د ډیرې رټنې باوجود بیا هم په خپل
ضد قائم وی، نو هغه به ناګهانه تباه شی او هیڅ علاج به یې نۀ
وی. ۲ کله چې صادقان حکومت کوی، نو خلق
خوشحالی کوی، خو هر کله چې بدکاره حکومت کوی، نو
خلق فریاد کوی. ۳ کوم انسان چې د حِکمت سره مینه
کوی نو هغه خپل پلار خوشحالوی، خو د کنجرو دوست
خپل مال حال الوځوی. ۴ په اِنصاف کولو سره یو بادشاه
خپل مُلک قائموی، خو هغه څوک چې رشوت اخلی نو هغه
مُلک تباه کوی. ۵ څوک چې د خپل ګاونډی خوشامندی
کوی، نو دے د هغۀ د پښو دپاره دام خوروی. ۶ بدکاره
انسان د خپلې ګناه په دام کښې راګیرېږی، خو صادقان د
خوشحالۍ سندرې وائی. ۷ صادقان د غریبانانو د حق
خیال ساتی، خو بدکاران دغه شان سوچ او فکر نۀ کوی. ۸

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسخره کوونکی ښارونه راپاروی، خو هوښیار انسان غصه
سړوی. ۹ کهٔ یو هوښیار د یو بېوقوف خلاف د مقدمې
دپاره عدالت ته روان شی نو بېوقوف به غصه شی او
مسخرې به کوی نو بیا به څنګه صُلح راشی؟ ۱۰ د وینو
تږی انسانان د نېک انسان نه نفرت کوی او په دې کوشش
کښې وی چې صادقان ووژنی. ۱۱ کم عقل د خپلې غصې
پوره اظهار کوی، خو هوښیار خپل ځان په قابو کښې ساتی.
۱۲ کهٔ یو حکمران دروغو ته توجو ورکوی، نو د هغهٔ ټول
آفسران به بدکاران شی. ۱۳ په دې کښې غریب او ظالم
دواړه یو شان دی، ځکه مالِک خُدائ دواړو ته ژوندون
ورکړے دے. ۱۴ کهٔ چرې یو بادشاه د غریبانانو سره
اِنصاف کوی، د هغهٔ بادشاهی به د تل دپاره قائمه وی. ۱۵ د
تربیت چوکه حِکمت پیدا کوی، خو چې کوم بچے چې آزاد
آموخته شی نو هغه به د خپلې مور د شرمولو باعث شی. ۱۶
کله چې د بدعمله حکومت راشی، نو ګناهونه عام شی، خو
صادقان به د داسې خلقو خاتمه ووینی. ۱۷ د خپل زوئ ښهٔ
تربیت وکړه هغه به تا ته سکون او خوشحالی درکړی. ۱۸
چرته چې الهام نهٔ وی نو هغه خلق سرکشه شی، خو بختور
دی هغه څوک چې په شریعت عمل کوی. ۱۹ صرف په
خبرو نوکر نهٔ سمېږی، اګر چې هغه پوهه وی خو بیا هم ستا
خبرو ته پام نهٔ کوی. ۲۰ څوک چې په جلدئ کښې خبرې
کوی نو هغه د کم عقل نه هم بدتر دے. ۲۱ کهٔ تهٔ د
ورکوټوالی نه خپل نوکر نیازبین آموخته کړې، نو په آخر
کښې به هغه ستا پلار شی. ۲۲ غصه ناک انسان جنګونه
جوړوی، او تُند خویه نه ډېر ګناهونه کیږی. ۲۳ د انسان
غرور په دهٔ باندې زوال راولی، خو د انسان عاجز خوی هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته عزت ورکوی. ۲۴ د غلو ملګرے په خپله د ځان دشمن
وی، هغه دا چې د قسم خوړلو نه وروستو به هم په عدالت
کښې دروغ وائی. ۲۵ ځوک چې د انسان نه يريږی هغه به په
دام کښې ګېر شی، خو چې ځوک په مالِک خُدائ توکل کوی
هغوئ به په امن و امان شی. ۲۶ ډېر د دې په کوشش کښې
وی چې حکمران ورسره ښهٔ وی، خو دا د مالِک خُدائ د
طرف نه ده چې انسان ته اِنصاف ملاويږی. ۲۷ نېکان د
بې‌ايمانانو نه نفرت کوی، او بدکاران د نېکانو نه نفرت کوی.

## د اجور نصيحتونه

۳۰ ۱ د ياقه د زوئ اجور پېغام چې د خُدائ کلام دے.
دې سړی پېغام ورکړو ايتی‌اېل ته او ايتی‌اېل اوکال ته. ۲
بې‌شکه چې زهٔ په ټولو انسانانو کښې بې‌وقوفه يم، ما کښې د
انسان په شان عقل نشته. ۳ ما عقل او حِکمت نهٔ دے زده
کړے، او نهٔ ما ته د مقدس ذات په حقله پته شته. ۴
آسمان ته ځوک تلے او بيا راغلے دے؟ هوا چا په موټی
کښې بنده کړې ده؟ او سمندر چا په خپل څادر کښې راګېر
کړے دے؟ او د دُنيا حدونه چا مقرر کړی دی؟ د هغهٔ نوم
څهٔ دے او د هغهٔ د زوئ نوم څهٔ دے؟ کهٔ تا ته پته وی نو ما
ته يې راوښايه. ۵ د خُدائ پاک هره خبره قابل اعتماد ده،
هغه د هغوئ دپاره ډال دے ځوک چې په هغهٔ کښې پناه
اخلی. ۶ د هغهٔ د کلام سره اضافه مهٔ کوه ځکه چې هغه
به دې ورَټی او دروغژن به دې ثابت کړی. ۷ اے مالِکه
خُدايه، زهٔ د خپل مرګ نه وړاندې ستا نه دوه خواستونه کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما خواستونه مۀ رد کوه، ٨ ما د دروغو او د چل وَل نه
وساته مۀ ما غریب کړه او مۀ مې مالداره کړه، خو ما ته
صرف خپله د هرې ورځې روټئ راکړه. ٩ هسې نه چې زۀ
مالداره شم او تا ونۀ پېژنم او ووايم چې، "مالِک خُدائ څوک
دے؟" او کۀ يا زۀ غريب شم او غلا وکړم، او داسې د مالِک
خُدائ د نوم بې‌عزتی وکړم. ١٠ د يو نوکر غيبت د هغۀ نېک
ته مۀ کوه هسې نه چې د هغۀ لعنت هغه په تا ووائی او دا به
ستا دپاره تکليف جوړ کړی. ١١ داسې انسانان هم شته چې
په خپلو پلارانو لعنت وائی او په خپلو میندو بدرد وائی، ١٢
خو هغوئ ته خپل ځان صفا ښکاری نو تر اوسه پورې د
هغوئ هغه ګندګی لا صفا شوې نۀ ده، ١٣ خو د هغوئ
سترګې هر وخت د کبر نه ډکې وی، او نورو ته په سپک نظر
ګوری. ١٤ د هغوئ غاښونه د تُورو په شان دی او د هغوئ
ژامنې د چړو په شان دی ترڅو چې غريبانان پرې د زمکې نه
تير کړی، او د انسانانو نه ضرورتمند ختم کړی. ١٥ جوره
دوه لوڼه لری او هر وخت وائی چې، "راکوه، راکوه." په دُنيا
کښې درې څيزونه دی چې کله هم نۀ مړيږی، څلور څيزونه
دی چې کله هم "بس" نۀ وائی، ١٦ قبر، او د شنډې رحم، او
اوچه زمکه، او تېز اور. ١٧ هغه سترګې چې د خپل پلار
پورې ټوقې کوی، او خپلې مور ته سپک ګوری، نو د صحرا
په ټپوسانو به راوېستلے شی، او لاش به يې د صحرا د ګنجئ
خوراک شی. ١٨ په دُنيا کښې درې څيزونه دی چې هغه زما
دپاره د حېرانتيا دی، او څلور څيزونه داسې دی چې په
هغوئ زۀ پوهه نۀ شوم، ١٩ په هوا کښې د باز الوتل، او په
ګټ باندې د مار تلل، او په سمندر کښې د کشتئ اوړېدل، او
د سړی مینه د ښځې سره پېدا کېدل. ٢٠ دا د زناکارې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځې طريقه ده چې کله زنا وکړى او بيا ولامبى او سراسر
منکره شى او وائى چې، "ما خو څۀ غلطى نۀ ده کړې." ۲۱
زمکه د درېو څيزونو په وجه لړزيږى، او څلور څيزونه
برداشت کولے نۀ شى. ۲۲ هغه غلام چې بادشاه شى، هغه
کم عقل چې په ګېډه موړ شى، ۲۳ ترخه ښځه چې وادۀ شى،
او کومه وينځه چې د خپلې بى‌بى بن جوړه شى. ۲۴ څلور
څيزونه دى چې په زمکه واړۀ دى، خو دوئ ډېر زيات
هوښيار دى. ۲۵ مېږى خو کمزورے مخلوق دے، خو بيا
هم په ګرمۍ کښې خپل ځان له خوراک راټولوى، ۲۶ ځنګلى
سوه خو کمزورے مخلوق دے خو په ګټانو او ګړنګونو کښې
ځانله کور جوړوى، ۲۷ د مُلخانو بادشاه نۀ وى، خو د
لښکر په شان روان وى. ۲۸ چرمښکۍ په لاس کښې هم
رانيولے کېدے شى، خو دا د بادشاهانو په محلونو کښې
ګرځى. ۲۹ داسې درې بلکې څلور څيزونه دى چې په ناز ناز
قدم اخلى يعنې، ۳۰ زمرے، چې په ځناورو کښې د ټولو نه
زيات تکړه دے او د يو څيز نه هم نۀ يرېږى، ۳۱ هغه چرګ
چې ځان ببر کړى، نر چېلے، او بادشاه چې خپل فوجيان
ورسره وى. ۳۲ کۀ تا کم عقلتوب وکړو او خپل ځان دې
لوئ کړو، او يا دې خرابې منصوبې جوړې کړې نو په خپلې
خولې دې لاس کېږده. ۳۳ دغه شان کۀ شُملې وشاربې نو د
شُملو نه کُچ جوړيږى، لکه څنګه چې پوزه زور کړى او وينه
ترې نه راوځى، غصه شاربل هم لانجه جوړوى.

## د بادشاه دپاره نصيحت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ ۱ دا هغه پیغام دے چې لمواېل بادشاه ته خپلې مور
تعلیم ورکړے وو. ۲ اے زما زویه، اے زما د تن نه په
نذرانو او منښتو پیدا شوی زویه، ۳ خپل د ځوانۍ طاقت
دې په ښځو مۀ ختموه او خپل مال په هغوئ مۀ خرچ کوه،
ښځو بادشاهان تباه کړی دی. ۴ اے لمواېله، د بادشاه
دپاره دا ښۀ کار نۀ دے، چې شرابی وی، او حکمرانان دې
شرابخوارۀ نۀ وی. ۵ هسې نه چې دوئ شراب وڅښی
شریعت ترې نه هېر شی او ټول مظلومان د خپل حق نه
محرومه کړی. ۶ شراب هغوئ ته ورکړه څوک چې تباه
کیږی، او مے د هغوئ دپاره وی څوک چې په غم آخته وی.
۷ دوئ پرېږده چې ځان نشه کړی او چې خپله غریبی پرې
هېره کړی چې خپل غم ورنه هېر شی. ۸ د هغوئ په ځائ
خبرې کوه څوک چې د خپل ځان دپاره خبره نۀ شی کولے.
او د هغه ټولو خلقو د حق دپاره څوک چې مسکینان وی.
۹ خبره کوه او په اِنصاف سره عدالت کوه، د غریب او
حاجتمند د حق حِفاظت وکړه.

## یوه عزتمنده ښځه

۱۰ یوه پاکه او عزتمنده ښځه څوک پیدا کولے شی؟ هغه د
لعلونو نه زیاته قیمتی وی. ۱۱ د خاوند په هغې باندې پوره
باور وی، او هغه به دے د څۀ محتاجه نۀ کړی. ۱۲ په خپل
ټول عمر کښې به دا هغۀ ته فائده ورکوی او نقصان به نۀ
ورکوی. ۱۳ هغه سنډ او وړۍ پیدا کوی او د هغې نه په خپلو
لاسونو په خوشحالۍ سره کپړې جوړوی. ۱۴ هغه د
سوداګرو د سمندری جهاز په شان وی، څوک چې خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوراک د لرې نه راوړی. ١٥ هغه سحر وختی راپاڅی لا
چې تيارۀ وی او د خپل خاندان دپاره خوراک تياروی او
خپلو وينځو ته کار ورښائی. ١٦ د زيات سوچ کولو نه
وروستو هغه چرته زمکه خوښوی او په بيعه يې اخلی او د
خپلې ګټې او محنت په پېسو پکښې د انګور باغ لګوی. ١٧
هغه خپل کار په ډېر محنت او د زړۀ نه کوی، او د هغې متې
د خپل کار پوره کولو دپاره مضبوطې وی. ١٨ هغه په دې
پوهېږی چې روزګار يې ګټه کوی، نو په شپه کښې تر ناوخته
کار کوی. ١٩ هغه په خپلو لاسونو سره څرخه کوی او دوک
په خپلو ګوتو سره نيسی. ٢٠ هغه خپل لاسونه د غريبانانو
مدد دپاره غزوی او حاجتمندو ته خپل لاسونه ورسوی. ٢١
کله چې واوره ورېږی نو د هغې سره د خپل خاندان څۀ فکر
نۀ وی، ځکه چې هغې دوئ ته ګرمې جامې تيارې کړې وی.
٢٢ هغه د خپل کټ دپاره څادر او د خپل ځان دپاره نازکې
او رنګارنګ کپړې تياروی. ٢٣ د هغې خاوند ته په جرګه
کښې عزت ملاوېږی، کله چې هم دے د ښار د مشرانو سره
ناست وی. ٢٤ هغه د کتان جامې جوړوی او خرڅوی، او
تاجرانو ته يې د پټئ په شکل کښې هم ورکوی. ٢٥ هغه د
طاقت او وقار په لباس ملبوسه ده او د راتلونکو ورځو په
حقله هغه خاندی او بې‌فکره وی. ٢٦ هغه په حِکمت سره
خبرې کوی، او هغه په مهربانئ سره ښودنه کوی. ٢٧ هغه د
خپل کور په حالاتو او سامان باندې خيال ساتی او د نا‌راستئ
روټئ نۀ خوری. ٢٨ د هغې بچی چې راپاڅی نو دې ته برکت
ورکوی او خاوند يې هم صِفت کوی، ٢٩ ”ډېرې ښځې دی
چې د عزت او درانۀ کارونه کوی، خو تۀ د دې ټولو نه ښۀ
يې.“ ٣٠ نازونه اداګانې دوکه ده او حُسن فانی دے، خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه ښځه چې د مالِک خُدائ نه يريږی نو هغه د صِفت
قابله ده. ۳۱ کوم کارونه چې هغې کړی دی هغې ته يې اجر
ورکړئ، او د خلقو په مينځ کښې د هغې د محنت ستائينه
وکړئ.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.